

صمد بهرنگی

ژباړه: م.ف. ناساز

# کوراوغلو او ګنجی حمزه

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**کوراوغلو او گنجی حمزه**

صمد بهرنگی

ژباړه:م.ف.ناساز

سمون:وياړ

برېښنايي خپرېدنه او بياکتنه: چنګاښ ۱۴۰۳

---

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک

سریزه.................................................................. ۱
کوراوغلو........................................................... ۱۳
حسن پاشا او گنجی حمزه ..................................... ۱۹
له چنلي بئل څخه د گنجي حمزه تېښته ............................ ۳٤
کوراوغلو او یاران یې................................................. ٤۳
له حسن پاشا او گنجي حمزه څخه د کوراوغلو انتقام ............... ۵۰

ketabton.com - The Digital Library

## سریزه*

د کوراوغلو د پهلوانیو داستان په آذربایجان او د نړۍ په ډېرو هېوادو کې زیات مشهور دی. دا داستان د شاه عباس د زمانې له پېښو او د دغه دورې له ټولنیزې وضعې څخه سرچینه اخلي.
اوولسمه میلادي پېړۍ، د ولسي هنر په تېره بیا په آذري ژبه کې د عاشقی شعر (عاشیق شعري) د پیدایښت او غوړېدا پېر دی. د شپاړسمې پېړۍ په نیمایي کې سیاسي پېښو په آذري ژبه کې د فولکلوري آثارو د پیدایښت لپاره ډېره مینه، علاقه او زمینه ایجاده کړه.
لمړنی شاه عباس، اصفهان ته د پلازمېنې په لیږدولو او په دربار کې د آذري ژبې پر ځای ورو ورو د فارسي په دودولو او له قزلباشانو سره په مخالفت کولو او د دوې په خپه کولو او د هغوی په وړاندې د سیال په توګه د «شاهسون» په راوړاندې کولو سره، هغه ژوره مینه چې د لومړني شاه اسماعیل له وخته د آذربایجانیانو او صفویانو په مینځ کې له آذري شعر سره، چې خطایي نومیده، موجوده وه؛ له مینځه یووړه او د آذري ژبې حرمت مات شو او د شاه عباس او آذربایجان تر مینځ ښکاره او پټه مبارزه پیل شوه. دې مبارزې د آذربایجان په ګوټ ګوټ کې هغو بلواوو او پاڅونونو ته قوت بخښلو، چې په دې سیمه کې تر سره کېدل. دې جګړو سره خامخا مالیات لاپسې درنېدل او د خانانو ظلمونو د خلکو ملا ماتوله....

---

*د عاشیق شعري نومې مقالې څخه، چې صمد بهرنګي د آذري ادبیاتو د لنډ تاریخ څخه په استفادې سره لیکلې ده. اصلي مقاله په خوشه مجله کې د تلې ۱۶ کال ۱۳۴۶ (۳۳ مه ګڼه کې) چاپ شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

نوې پېښې د مینانو لپاره، چې خپلې خبرې او ساز یې د خلکو د هیلو او غوښتنو د بیانولو لپاره کارولې، یوه نوې «اومه ماده» وګرځېده.

مین هغه ګرزنده سندرغاړی او ساز غږونکی دی، چې د کلیوالو په ودونو او د جشن په مجلسونو او په قهوه خانو کې چمبه او سورنۍ وهي او سندرې وایي او عاشقانه او جنګي او فولکلوریکې کیسې کوي. عاشقان د خپلو تصنیفونو شعر او آهنګ هم پخپله جوړوي.

علی جان موجي د دغې زمانې شاعر د خپلې ناهیلي او ناکراري کچه داسې بیانوي:

گئتمك گرك بیر ئوز گه دیاره بوملكدن
کیم گون به گون زیاده گلیر ماجرا سسي
«موجی» خدا دن ایسته پو بحر ایچره بیرنجات
گردابه دوشسه کشتي نئلر ناخدا سسی؟

ژباړه:

له دې وطنه، چې شور او غوغا په کې ورځ تر بلې زیاتېږي، باید بل ملک ته کډه شو. موجي، په دې سمندر کې له خدایه نجات وغواړه، که بېړۍ په ګرداب کې وغورځېږي د ماڼو چغې څه په کار راځي؟

په کال ۱٦۲۹ کې د ایران او عثماني امپراتورۍ د خونړیو جګړو په دوران کې په طالش کې د ښاري بېوزلو او بزګرو غبرګه بلوا پېښه شوه، چې شاه عباس او د هغه لاس پوخي خانان یې سخت وارخطا کړل. بلواګرو د شاه عباس او خانانو تجارتي مالونه او راټولې شوې مالیې او هر هغه څه چې

ketabton.com - The Digital Library

په یو ډول په حکومت پورې تړلي ول، لوټ کړل او په بېوزلو یې وویشل. ساري خان د طالش واکمن د نورو خانانو په مرسته د دغه سیمې بلوا وځپله.

په قاراباغ کې د میخلي بابا په نامه یو سړي، آذربایجاني او ارمني بزګران پر ځان راټول کړل او د خانخاني او مذهبي خرافاتو پر ضد یې مبارزه پیل کړه. هغه له خپلو ملګرو سره کلي په کلي ګرځېده او تبلیغ یې کاوه او کلیوال به د مالیاتو د درانه پیټي او د خانانو د ظلم نه د خلاصون او د ټولنیزې وضعې د بدلون په هیله د هغه پر شا و خوا راټولېدل.

د میخلي بابا غورځنګ ورو ورو قدرت وموند او راڅرګند شو او په ټول قاراباغ او ارمنستان او شاوخوا سیمو کې یې نیلي وزغلولې او د ده پټ تبلیغ یو ناڅاپه په یو وسله وال پاڅون بدل شو.

د آذربایجان په سویل لوېدیځ کې اوضاع له دې نه هم لاخرابه وه.د جلالي لر (جلالیانو) پاڅون دغه ټوله سیمه نیولې وه. د دې پاڅون، چې له دیرشو کالو زیات وخت یې ونیو، یو خوا ته عثماني پاشاهان ول او بلې خوا ته یې شاه عباس او په ټوله کې خانان، پاشایان*، فیوډالان او د مرکزي حکومت لاس پوڅي حاکمان ول.

د همدغو سیاسي او ټولنیزو پېښو په منځ کې هنري پنځونې هم وټوکېدې او وغوړېدې او د آذربایجان حماسي څېرې د عاشقانو د ساز او سوز څخه د رښتیني اتلانو او ټولنیزو پېښو پر بنسټ رامنځته شوې او هماغه شان چې تل او په هر ځای کې معمول ده، د تېرو وختونو اتلان په خپلو

---

*پاشایان د عثماني امپراتورۍ د ایالتونو واکمنان ول، چې خپل شخصي جنګیالي یې لرل او د امپراتورۍ په چوپړ کې وو. پښتو. ژباړه

ketabton.com - The Digital Library

آشنا څېرو سره په نوو کالو کې ببرته راڅرګند شول او د وخت له اتلانو سره یو ځای شول.

د کوراوغلو ځلانده، مبارزه او انساني څېره له دغه شان امتزاج څخه منځ ته راغله.

د عباسي عاشق توفار قانلي د ژوندانه له شوره ډک داستان، چې شاه عباس یې ناوې له ډولۍ څخه تښتوي او دې په یوازې سر د خپلې ناوې د خلاصون لپاره اصفهان ته پلی ځي، په حقیقت کې د آذریانو او شاه عباس تر منځ د برالا او پټې مبارزې تمثیل دی. شاه عباس د وخت د خانخاني قطب او د قدرت استازی او عاشق د هغه رغانده خلکو تمثیل دی چې غواړي په آزادۍ کې ژوند وکړي.

ناویلی دې پاتې نشي، چې شاه عباس د آذربایجان په فولکلور کې په دوو مغایرو بڼو انځورېږي. یوه یې په پورته ډول وویل شوه او بله یې د یو مهربان او پراخ لاسي ملنګ په بڼه چې په شپه کې د وږو، کونډو او بېوزلو خلکو مرستې ته وردانګي. په ظاهر کې، وروستنۍ بڼه د حکومتي نظام د سختو تبلیغاتو او یو لړ غولونکو او ځان ښودونکو اقداماتو زېږنده ده، چې نه پرېږدي ظاهربین او قانع خلک د واکمن نظام ماهیت وپېژني.

په هر حال، له دې سریزې وروسته، اوس راځو د کوراوغلو نامتو داستان ته:

د کوراوغلو داستان او هغه څه چې په هغه کې بیانېږي د کورنیو او بهرنیو غلیمانو سره د خلکو د اوږدو مبارزو، د جلالي لر د پاڅون او د وخت د نورو پاڅونونو تمثیل دی، که په دوو ټکو کې ووایو: د کوراوغلو او د ده د ډلې پاڅون، د فیوډالیزم او د ارباب رعیتي ضد پاڅون هغه حماسي او ښکلی

ketabton.com - The Digital Library

انځور دی چې د آسیا په یوه سیمه کې د ګرمو وسلو د اختراع په پېر کې پیلیږي او ایران ته د ګرمې وسلې په واردېدلو سره پای ته رسېږي.

د پاڅون نیالګی د علي کیشي په نامه د یو بوډا مشر په وسیله کېښودل کېږي چې د روشن (د راتلونکو کلونو کوراوغلو) په نامه زوی لري. حسن خان چې یو لوی خان او مالدار دی، د یوې ډېرې کوچنۍ پېښې له کبله چې هغه یې ځانته سخت سپکاوی ګڼي، امر کوي چې د علي کیشي سترګې وباسي. علي کیشي له دوو بهانو سره، چې له افسانوي سیندني آسونو سره د مادیانو د یو ځای کېدو څخه لاس ته راوړي ول، د خپل زوی روشن سره د خان د سیمې نه تښتي او له ډېرو سېمو شا ته پرېښودولو وروسته په پای کې په چنلي بئل (د غره له خړې ډکه لمن) کې چې یو ډېرین او د سختو کږو وږو لارو یو غر دی، میشت کېږي. روشن د خپل پلار په شان د جادو په حکم په تیاره کې بهانونه روزي او په قوشابولاق (غبرګه چینه) کې په یوه ټاکلي شپه لامبي او په دې ډول د ده په روح کې د عاشقي هنر پیدا کېږي او علي کیشي له یوې ټوټې اسماني اوسپنې څخه چې په غره کې غورځېدلې وه، د خپل زوې لپاره د تورې جوړولو سپارښت کوي او وروسته له هغې چې خپل ټول سپارښتونه او وصیتونه کوي، مري.

روشن، خپل پلار په هماغه قوشابولاق کې خاورو ته سپاري او ورو ورو یې د هنر انګازه له غرونو څخه وځي او په کلو او ښارونو کې خپرېږي. همدغه وخت دې چې روشن د کوراوغلو (د ړانده زوی) په نامه شهرت موندلی دی.

دواړه بهانه، د ده هغه نامتو او له سیلۍ نه توند آسونه شول، چې قیرآت او دورآت نومېدل.

ketabton.com - The Digital Library

بالاخره کوراوغلو بریالی کېږي چې حسن خان چنلي بئل ته راولي او اخور ته يې وتړي او په دې توګه د خپل پلار غچ ورڅخه واخلي. عاشق جنون، د لومړیو څخه له کوراوغلو سره یو ځای کېږي او د کوراوغلو او د چنلي بئل د لوړو او دموکراتیکو افکارو تبلیغ کوي او غره ته د شورشیانو او پاڅون کوونکو لارښوونه کوي.

هغه څه چې په داستان کې مطرح شوي ښيي، چې د کوراوغلو داستان په رښتیا د وخت د ټولنیزو او سیاسي پېښو پر بنسټ، په تېره بیا د جلالي لر له پاڅون څخه په الهام اخیستلو سره جوړ شوی دی. د ښارونو، کلو، رودونو او غرونو نومونه چې په داستان کې راغلي دي هر یو يې په یو ډول د جلالي لر د خاورې او پاڅون سره تړلي دي. سربېره پر دې د داستان ځینې بندونه(وینا) د بېلګې په ډول د توقات سفر او د زنجان سفر هغو پېښو او خاطرو ته ډېر ورته والی لري، چې د تاریخ په کتابونو کې راغلي دي او دلته يې ځانګړې هنري بڼه موندلې ده. له بل پلوه د داستان د شخصیتونو نومونه او القاب د جلالي لر له نومونو او القابو سره ډېر نژدې دي.

نامتو ارمني مورخ تبریزلی آراکل (۱٦۷۰-۱٦۰۲) په خپل نامتو تاریخي کتاب واغارشاپاد په ۸٦ مخ کې هغه ځوانان چې د کوراوغلو په مشرۍ يې پاڅون کړی وو، داسې یادوي: «کوراوغلو... دا هماغه کوراوغلو دی چې اوس عاشقان د ده زیاتې ترانې وايي... ګیزیر اوغلو مصطفا بګ، چې له نورو زرهاو کسانو سره يې پاڅون کړی وو... هماغه دی چې د کوراوغلو په داستان کې د ده ملګری دی او نوم يې ډېر یادېږي. دغه ټول جلالي لر ول چې د حکومت ضد يې پاڅون کړی وو.»

ketabton.com - The Digital Library

خو کوراوغلو یوازې د خپل عصر د اتلانو او پاڅون کوونکو انځور نه دی، ده د بابکیانو ځانګړتیاوې او مېړانې، چې په نهمه پېړۍ کې یې د عربو یرغل ته سرونه ټیټ نه کړل، په ځان کې هم راټولې کړي دي. موږ ډېر ښه د بابک او جاویدان، چې له بابک څخه وړاندې غر ته تللی وو، مبارزه او قهرجنې څېرې د کوراوغلو په مېړنۍ څېره کې هم وینو.

هلته چې کوراوغلو، پهلوان ایواز د پلار نه اخلي او له ځان سره یې چنلي بئل ته راوړي او د پهلوانانو مشر یې ټاکي، موږ ته جاویدان را په یادېږي، چې بابک یې له مور څخه واخیست او غر ته یې بوت او د پاڅون کوونکو مشر یې کړ.

کوراوغلو د داسې سړي زوی دی چې سترګې یې حسن خان ویستلې او جاویدان هم د داسې ښځې زوی دی چې سترګې یې ویستل شوې دي. احتمال لري چې بابک د خلیفه د مامورانو له منګولو څخه د تیښتې لپاره ډېره موده په بېلابېلو نومونو او القابو ژوند کړی او یا یې د خلکو په منځ کې په څو نومونو شهرت موندلی او وروسته یې هم نوم د کوراوغلو له نوم سره یو ځای شوی او د هغه سرګذشت د ده سره غوټه شوی وي.

د دادا قورقود داستانونه، چې لا لرغوني فولکلور او حماسي داستانونه دي د کوراوغلو د داستانونو په پنځونې کې بې اغېزې نه دي. د دې دواړو د ورته والي ځانګړتیاوې په ګوته کول اوس اړین نه دي.

د کوراوغلو پاڅون نه یوازې دا چې د لوټ او تالان لپاره نه دی، بلکې د شخصي شهرت او مقام غوښتنې او واکمنۍ ته د رسېدو لپاره هم نه دی. هغه یوازې د خلکو او آزادۍ په خاطر، د انساني شرافت په خاطر جنګیږي

ketabton.com - The Digital Library

او وياړي چې د خپل وطن په غرونو کې پالل شوی دی. په يو ځای کې وايي:

منی بینادان بسله دی
داغلار قوینوندا قوینوندا
تولك تر لانلار سسله دی
داغلار قوینوندا قوینوندا
* * *
دولاندا ایگیت یاشیما
یاغي چیخدي ساواشیما
دلیلر گلدي باشیما
داغلار قوینوندا قوینوندا
* * *
سفرائیله دیم هریانا
دئو لاری گیتردیم جانا
قیرآیتم گلدي جولانا
داغلار قوینوندا قوینوندا

ژباړه:
زه د اول نه د غره په غېږه کې روزل شوی يم، بازانو د غره په غېږه کې زما نوم ياد کړ.

*

ketabton.com - The Digital Library

څنګه چې مې د ځوانۍ په درشل کې قدم کېښود، غلیم زما مقابلې ته راودانګل. پهلوانان د غره په غېږه کې زما پر شا و خوا راټول شول.

*

هر ځای ته چې لاړم، دیوان می تنګ کړل، زما آس «قیرات»د غره په غېږه کې وزغاست.

کوراوغلو ښه پوهېږي چې هغه مبارزه چې عدالت او خلک یې ملاتړ کوي څومره ځواکمنه ده. هغه چې هرې خوا ته مخ اړوي په مینه او درناوي کې ځان ډوب ګوري. همدا خبره د جګړې په ډګر کې ده ته جرئت بخښي چې په ډاډ سره خانانو او اربابانو ته آواز کړي.

قیرآتی ګیتردیم جولانا
وارسا ایګیدلرین میدانا ګلسین!
ګؤرسون دلیلرین ایندی ګوجونو،
بویاسئین انداتي آل قانا، ګلسین

*

کوراوغلو اییلمزیاغي یا، یادا،
مردین اسګیك اولماز باشیندان قادا،
نعره لر چکرم من بود و نیادا
ګؤسترم محشري دوشمانا، ګلسین!

ژباړه:

ketabton.com - The Digital Library

پاشا! ما خپل آس «قیرات» وزغلاوه، که د میدان اتل لرئ، ورته ووایه رامخ ته شه! اوس دې راشي او د مېړنو د متېو زور دې وګوري او اندامونه يې په وينو رنګ شي.

*

کوراوغلو، غليم او پردي ته سر نه ټيټوي. مېړنی هېڅکله آرام نه کښېني. په نړۍ کې غوغا پورته کوم او دښمن ته قيامت جوړوم. ورته ووايه راشه!

د کوراوغلو ځواک هماغه د ولسونو ځواک دی، داسې لايزاله ځواک چې د ټولو ځواکونو سرچينه ده. د کوراوغلو تر ټولو لويه ځانګړتيا پر دغه ځواک باندې ډېره لګول او باور لرل دي. وايي:

ايګيت اولان هئچ آيريلماز ائليندن
ترلان اولان سونا و ئرمز ګؤلوبدن،
ياغی آمان چکير جو مرد الیندن،
لش لشين اوستو نه قالايان منم

ژباړه:
مېړنی هېڅکله له خپل ملت نه، نه بېلېږي. شاهين، نه پرېږدي چې د ده له سيند نه کب وتښتوي. دښمن د مېړنو له لاسه د امن چغې وهي. زه هغه څوک يم چې مړي پر مړي انباروي.

*

ketabton.com - The Digital Library

هغه ان د يوې شببې لپاره نه هېروي چې د څه لپاره جنګېږي، څوک دی او ولې مبارزه کوي. تل د خپلو خلکو د آزادۍ په فکر کې وي چې مریيانو غوندې يې د خانانو او حکومتي نظام تر فشار لاندې ملاګانې ټيټې کړې دي. وايي:

قول دئيه رلر، قولون بوينون بورار لار
قوللار قاباغيندا گئدن تيرم من!

ژباړه:
چا ته چې مريي وايي خامخا خپل څټ ټيټوي. زه هغه غشی يم چې د مریيانو مخامخ حرکت کوي.

*

د چنلي بئل ټولنيزې اړيکې عادلانه او ټولو ته يو شان دي. څه چې د لويو سوداګرو او خانانو نه په غنيمت اخيستل کيږي، د ټولو په واک کې ورکول کيږي، ټول په رزم او بزم کې ګډون کوي. کوراوغلو پر نورو باندې هېڅ امتياز نه لري، پرته له دې چې ټولو دې په دې دليل چې پر صداقت او انسانيت يې باور لري، په خپل مشرتابه منلی دی.

ان دا چې کوراوغلو په خپل وخت خپلو پهلوانانو لپاره ودونه هم کوي. د چنلي بئل ښځې معمولاً د خانانو په پرده کې جونې دي، چې د عاشقانو له خولې د پهلوانانو د پهلوانۍ او د اندامونو د ښکلا صفتونه اوري او مينيږي او بيا پهلوانانو ته پيغام استوي چې دوی پسې راشي. دغه ښځې، په خپله، په پهلوانۍ او جګړې کې له سړو نه لږې نه دي.

ketabton.com - The Digital Library

نګار چې په خپله خوښه یې له شاهانه ژوند نه لاس اخیستی او چنلي بئل ته راغلې، یوازې د کوراوغلو مېرمن نه ده، بلکې د ده هم جنګیاله او همفکره هم ده. نګار، ښکلا او پوهه دواړه لري. پهلوانان د دې خبره اوري او حساب پرې کوي او هغه د یوې مهربانې مور په شان د هېڅ چا له حال نه بې خبره نده او ټول ورسره مشوره کوي.

د کوراوغلو د حماسې بند بند د آزادۍ، مبارزې، دوستۍ، انسانیت او برابرۍ څخه غړیږي. افسوس چې په دې لنډیز کې د هغو ټولو د بیانولو فرصت نشته. دا هم باید ووایو چې د کوراوغلو داستان په عین حال کې د آذري نظم او نثر تر ټولو ښه او ځواکمنه بېلګه ده او تر اوسه یې ۱۷ بنده په آذري کې راټول شوي او چاپ شوي دي، چې په آذربایجان کې، په آذري ژبه کې د چاپ شویو کتابونو تر ټولو لوړ شمېر پلورونکو کتابونو څخه دی.

ketabton.com - The Digital Library

# کوراوغلو

څو کاله پخوا په آذربایجان کې یو مېړنی پهلوان و. نامه یې کوراوغلو وه. کوراوغلو مخکې تر هغې چې په پهلوانانو کې مشهور شي، روشن نومېده. د روشن پلار ته یې علي کيشي وایه. علي د حسن خان د آسونو ناظر وو. د آس په روزنه کې ساري نه درلود او په نظرکولو سره پوهېده، چې فلاني آس څنګه آس دی.

حسن خان د شتمنو او ظالمو خانانو له جملې څخه وو. ده د نورو خانانو او امیرانو غوندې زښت نوکران او لښکرې درلودلې او هر څه به یې چې زړه وغوښتل، کول به یې، سرې به یې وژل او د خلکو ځمکې به یې غصبولې او له بزګرو او کسبګرو څخه به یې بې شمېره باج او خراج اخیست، آزادي غوښتونکي پهلوانان به یې بندیانول او ځورول. د هیچا زړه ترې ښه نه وو. یوازې ستر سوداګر او غټان او اشراف ورڅخه راضي ول، دوی د یو بل په مرسته خلک لوټول او په کار به یې ګمارل. د مزو چړچو مجلسونه به یې جوړول، د ځان لپاره به یې په ښې هوا لرونکو ځایونو کې ښکلې او مجللې ماڼۍ جوړولې او هېڅکله د خلکو د ژوند په فکر کې نه ول، یوازې هغه وخت به خلک او بزګران ورپه یادېدل چې غوښتل به یې مالیات لوړ کړي.

په خپله حسن خان او نور خانان هم د لوي خان نوکران او فرمان وړونکي ول. لوي خان له هغوی باج اخیست او ورڅخه ملاتړ یې کاوه او اجازه یې ورکوله څنګه چې غواړي له خلکو باج او خراج واخلي خو هېره نکړي، چې د هغې ونډه باید هر کال زیاته کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ستر خان ته به يې «خپل کار» وايه. «خپل کار» تر ټولو شتمن او ځواکمن خان وو. په سل هاو او زر هاو خانان او اميران او جلادان او پهلوانان به يې په دربار کې مړېدل، د سپي په شان به له ده نه بېرېدل او فرمان به يې ورله په پټو سترګو مانه.

يوه ورځ حسن خان ته خبر راغی چې د ده يو دوست، حسن پاشا د ده ملاقات ته راځي. امر يې وکړ د عيش او عشرت مجلس تيار کړي او د پاشا هرکلی وکړي.

حسن پاشا څو ورځې د حسن خان په کور کې پاتې شو او کله چې غوښتل يې لاړ شي ويې ويل: «حسن خانه! اورېدلي مي دي چې ته ډېر ښه آسونه لري!»

حسن خان مرۍ وپړسوله او وې ويل:«زما د آسونو په شان آسونه په دې نژدې شا و خوا کې څوک نلري! که غواړې يوه جوړه به درکړم.»

حسن پاشا وويل: «ولې به يې نه غواړم.»

حسن خان خپل د آسونو ناظر ته امر وکړ:«آسونه څرځای ته بو نه ځې چې پاشا د خپلې خوښې آسونه انتخاب کړي.»

بوډا ناظر علي کيشي پوهېده، چې په آسونو کې يې ډېر ښه آسونه شته خو هېڅ يو يې هغو دوو بهاڼو ته نه رسيږي، چې پلار يې د سيندني آسونو څخه وو. يوه ورځ يې د آسونه رمه د سيند غاړې ته بوولي ول او خپله په يو ګوټ کې پروت وو. ناڅاپه يې نظر شو چې دوه آسونه د سيند نه راووتل او د آسونو په رمې کې له دوو اسپو سره جوړه شول. علي کيشي دغه دواړه اسپې تر نظر لاندې ساتلې څو يوه ورځ دواړو بهاڼونه وزېږول. د علي بهاڼونه ډېر خوښېدل او ويلې چې د نړۍ تر ټولو ښه آسونه به شي. کله چې حسن خان

ketabton.com - The Digital Library

وویل غواړي خپل میلمه ته آس ډالۍ کړي، نو هغه له ځان سره وویل: «ولې آسونه څر ته بو نه ځم؟ په آسونو کې د دې دواړو بهانو نه ښه آسونه نشته!»

آسونه یې څر ځای ته وشړل او دوه بهانه یې د خان مانۍ ته راوستل. حسن پاشا په خندا خندا له مانۍ نه راووت چې آسونه انتخاب کړي. ویې لیدل چې د آس هېڅ پته نشته او د مانۍ لاندې دوه واړه او خوار بهانونه ولاړ دي، وې ویل: «حسن خانه! د سوغات آسونه دې همدا دي، هه؟ زه دغسې ټټوګان ډېر لرم. اورېدلي مې وو چې ته ښه آسونه لرې. د ښو آسونو چې دې دا حال وی، افسوس د نورو پر حال.»

د دې خبرې په اورېدو سره د حسن خان مخ سور شو او دنیا پرې تورتم شوه. پر علي کیشي یې چغه کړه:«سړیه! در ته مې نه وو ویلي چې آسونه څر ته بو نه ځې!»

علي کیشي وویل: «خان دې سلامت وي، ته پوهېږې چې ما ستا په ناظرتوب کې د سر ویښتان سپین کړي او تکړه آس پېژندونکې یم، ستا په آسونو کې د دې دواړو نه ښه آسونه نشته.»

خان د علي کیشي د دې ګستاخي نه لا په غصه شو او جلاد ته یې امر وکړ ژر د دې ګستاخ سړي سترګې وباسه.

علي کیشي چې څومره زارۍ او سوالونه وکړل، چې زه بې ګناه یم، ځای یې و نه نیوه. جلاد ژر رامنډه کړه او علي یې ونیو او سترګې یې ور نه وویستلې.

علي کیشي وویل: «خان، اوس چې دې د ژوند تر ټولو لوی نعمت له ما نه واخیست، دغه دواړه بهانه ماته راکړه.»

ketabton.com - The Digital Library

خان چې لا تر اوسه يې غصه ناسته نه وه، چغه يې کړه: «مرګوني ټټوګان دې بوځه او ژر له دې ځايه ورک شه!»

علي د دواړو بهانو او له خپل زوي روشن سره د غره او بيابان لاره ونيوله. هغه د غچ په فکر کې وو، د ځان او نورو ميليونو وطنوالو د غچ په فکر کې، خو بايد د غچ اخيستلو ورځې تر رارسېدو پورې صبر وکړي.

هغه په ورځو ورځو او شپوشپو د خپل زوي او له دوو بهانو سره بيابانونه او غرونه ووهل، په پای کې يې د کږلېچونو او پېچومو نه ډک غره پر سر چې چنلي بئل نومېده، واړول.

علي کيشي د روشن په مرسته د بهانو په روزنه کې سخت زيار وويست، داسې چې څه موده وروسته ترې غښتلي او سيلۍ په شان تيز آسونه جوړ شول، چې تر ننه يې د زمانې سترګو ساری او مثل نه وو ليدلی.

په يو آس يې د قيرآت او په بل يې دورآت نوم کېښود.

قيرآت دومره تېز وو، چې د درې مياشتو واټن يې په درې ورځو کې واهه او دومره قوي او جنګيالی وو چې د جګړې په ډګر کې يې د لښکر سره مقابله کوله او دومره وفادار او مهربان وو چې له کوراوغلو پرته به يې بل څوک نه پرېښود ورباندې سپور شي، خو دا چې کوراوغلو به په خپله د ده واګې د بل چا لاس کې ورکړ. کله چې به له کوراوغلو بېل شو نو ژړل به يې او هنېده به. زړه به يې غوښتل چې کوراوغلو راشي او ساز ورته وغږوي او شعر او د پهلوانۍ سندرې ورته ووايي. قيرآت د کوراوغلو په ژبه ښه پوهېده او د کوراوغلو په افکارو، د هغه د سترګو او لاس او بدن په حرکاتو پوهېده.

البته دورآت هم له قيرآت نه کم نه وو.

ketabton.com - The Digital Library

روشن د خپل پلار له پلان څخه خبر وو او د زړه له کومي يې غوښتل چې د غچ ورځ لا ډېره را نژدې کړي.

کله چې علي کيشي مړ کېده فکر يې تر يوې اندازې آرام وو، ځکه هغه تخم يې چې کرلی وو اوس راټوکېدلی وو او باور يې درلود چې روشن به د ده پلانونه عملي کړي او د خلکو غچ به له ظالمانو نه واخلي.

روشن د خپل پلار جنازه په چنلي بئل کې خاورو ته وسپارله.

روشن په ډېر لنډ وخت کې وکولای شول چې نهه سوه نهه نوي له سره تېر پهلوانان په چنلي بئل کې راټول کړي او د خانانو او لويو خانانو سره سخته مبارزه پيل کړي.

د همدغه مبارزو او جګړو په موده کې په کوراوغلو مشهور شو. يعنې هغه سړې چې پلار يې ړوند وو.

چنلي بئل ډېر ژر د ځورېدلو، آزادي غوښتونکو او غچ اخيستونکو پناه ځای شو. د چنلي بئل پهلوانانو د خانانو، اميرانو او «خپل کار» مالونه لوټول او پر بېوزلو او نېستمنو خلکو يې وېشل. چنلي بئل د داسې مېړنيو ټينګه کلا وه، چې قانون يې دا وو: هغه څوک چې کار کوي د ژوند کولو حق لري، او هغه څوک چې د نورو له کار او زحمت حاصل اخلي او مزې چړچې کوي، بايد نابود شي. که ډوډۍ شته بايد ټول يې وخوري او که نشته، ټول بايد وږي پاتې شي او ټول بايد کوښښ وکړي چې ډوډۍ پيدا کړي. که هوساينه او نېکمرغي ده بايد د ټولو لپاره وي او که نشته نو د هيچا لپاره به نه وي.

کوراوغلو او پهلوانان يې په هر ځای کې د خلکو پلويان او د خانانو او مفتخورو کلک دښمنان ول. هېڅ خان د چنلي بئليانو له وېرې آرام خوب نه درلود. خانانو چې هر څومره هڅه کوله چې چنلي بئليان خواره واره کړي او

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو ووژني، برلاسه نه شول. د سترخان لښکرو څو واره پر چنلي بئل یرغل وکړ، خو هر ځل د غرونو زمریانو په لاس د غره په پېچومو او کړلېچو کې تس او نس شول او خان له ماتې او رسوایۍ پرته بل څه لاس ته را نه وړل.

د چنلي بئل ښځې هم د خپلو سړو نه کمې نه وې. د ساري په توګه د کوراوغلو ښکلې ښځه، چې نامه یې نګار وه، یوه زمریالۍ ښځه وه چې په کراتو مراتو یې د جګړې کالي اغوستلې او توره په لاس پر آس سپره د غلیم په زړه کې ورننوتلې  او د مړو ډېرۍ یې جوړه کړې وه.

د کوراوغلو هره پهلواني او هر جګړه ییز سفر یې یو  بېل بېل داستان دی. د کوراوغلو داستانونه په اصل کې په ترکي ژبه ویل کیږي او د ښکلو او له معنا نه ډکو شعرونو سره یو ځای د آذربایجان عاشقان یې له ساز او آواز سره خلکو ته وایي.

ketabton.com - The Digital Library

# حسن پاشا او گنجی حمزه

د چنلي بئلیانو پاڅون ورو ورو دومره غښتلی شو، چې په سترخان ډېر تنګ شو او کله یې چې ولید د کوراوغلو مقابله نشي کولای د ناچارۍ نه یې ټولو خانانو، امیرانو، مشرانو، پهلوانانو او د لښکر لویانو ته لیک واستاوه او هغوی یې راوبلل چې راشي او مشورتي مجلس جوړ کړي.

کله چې ټول په مجلس کې حاضر شول او هر یو پر خپل ځای کیناست، سترخان په وینا پیل کړه: «حاضرینو! څنګه چې خبر لرئ، له څه مودې راهیسې یوه ډله غله او بلواګر په غره کې راټول شوي او د هېواد هوساینه او امنیت یې ګډوډ کړی دی. د دغه لوټمارو غلو مشر د کوراوغلو په نامه د یو بې لاسو پښو مهتر زوی دی، چې خلک وژني او په غلا او لوټمارۍ کې ساری او مثال نه لري. د هېواد په هر ځای او هر ګوټ کې چې غلا، سرې وژنه او ګډوډي وي، د ده ډله په کې لاس لري. د کوراوغلو ډلګۍ ورځ تر بلې خطرناکه کیږي.که موږ لاس تر زنې کښینو، یوه ورځ به سترګې وغړوو او و به ګورو چې چنلي بئلیانو زموږ ټوله خاوره او مالونه غصب کړي دي. هغه وخت یا باید خپل لاس او پښې راټولې کړو، وتښتو او یا ور شو د دغو بلواګرو شوکمارو نوکري او خدمت وکړو. معلومه نه ده، چې خدای د دغه خاینانو په زړه کې لږ څه رحم هم اچولې دی که نه...خانانو، امیرانو، مشرانو، پهلوانانو تاسو ته خبرداری درکوم: دغه بلواګر غله به په خپلې مور او په خپل ورور هم رحم و نه کړي.

هغه ستر خطر، چې د هېواد امنیت ګواښي، زه یې اړ کړم چې د دې مجلس د جوړېدو امر وکړم. نو څه تدبیر باید ونیسو؟ څنګه کولای شو دغه

ketabton.com - The Digital Library

بلواګر پر خپل ځای کښینوو؟ آیا دا ټول نجیبزي، دا ټول محترم خانان او نامتو پهلوانان او سرکردګان به د یو بې لاسو پښو مهترزي چاره ونشي کړای؟...»

خپلکار خپله وینا تمامه کړه او د مرغلرو پر تخت کیناست. د مجلس خلکو لاسونه وپړکول او چیغې کړې:«ژوندی دې وي خپلکار، د وطن او ملت د امنیت ضامن... مړه دې وي د چنلي بئل بلواګران!...»

د مجلس د خلکو شور او ځوږ دیوالونه ولړزول. خپلکار د سر او لاس په ښورولو سره د خانانو او مشرانو ځواب ورکاوه. وروسته چې چوپتیا شوه، خبرې اترې پیل شوې. یو تن وویل: «که ډېرې پیسې ورکړو، کوراوغلو به له شوکمارۍ نه لاس واخلي.»

بل وویل:«د چنلي بئل شا و خوا ځمکې به کوراوغلو ته ورکړو، چې هر ډول یې زړه وي د خلکو نه دې باج او خراج اخلي او نور دې موږ نه په تنګوي.»

یو بل وویل:«یو څوک کوراوغلو ته ورولیږو وګورو وروستنۍ خبره یې څه ده. هر څومره ځمکه او پیسې چې غواړي ور یې کړو او پخلا یې کړو.»

حسن پاشا هم په دې مجلس کې وو. دې د **توقات** واکمن وو. هماغه سړی وو، چې حسن خان د ده په خاطر د علي کیشي سترګې ویستلې وې. حسن پاشا د سترخان ښی لاس وو. د خپلکار په میلمستیاوو کې به تل پر دسترخوان کیناسته او چې کله به خپلکار ناروغه وو، د هغه پر بالښت به یې پلتۍ وهلې وه، په رښتیا یا درواغو به یې ځان غمژن ښوده. د لښکرکښۍ ځواک او هنر یې هم زده وو.

ketabton.com - The Digital Library

د لښکر هر یو تن به له ده نه د سپي په شان ډارېده او د ګډې په شان به یې د خپلو جګپوړو اطاعت کاوه.

مقصد دا چې حسن پاشا د خپلکار په مجلس کې وو او هېڅ خبره یې نه وه کړې. خپلکار د ټولو وړاندیزونه واورېدل او په آخر کې یې وویل: ستاسو په دې وړاندیزونو کې هېڅ یو د چنلي بئل د بلواګرو چاره نشي کولای. اوس به غوږ شو وګورو چې حسن پاشا څه وايي.

خانانو او امیرانو په زړه کې حسن پاشا ښکنځه او رد و بد یې ورته ویل. آخر خانان او امیران او غټان تل د یو بل مقام او رتبې ته سترګه خړه کوي، دوی هیله کوي چې سترخان ته تر ټولو ګران وي چې وکولای شي چې په لا آزاد لاس او ځواک سره د خلکو نه باج او خراج واخلي او لا ښې مزې او چړچې وکړي.

حسن پاشا راپورته شو، تعظیم یې وکړ او د خپلکار د پښو لاندې ځمکه یې ښکل کړه او وې ویل: «خپلکار دې سلامت وي، زه څه سپی یم چې د خدای د سیورې په مقابل کې خوله خلاصه کړم، خو اوس چې د خپلکار مبارک امر دی زه چې له سپي نه لا خوشې یم هم خبرې وکړم مجبور یم اطاعت یې وکړم ځکه چې ویلي دي: د خپلکار امر د خدای فرمان دی.»

حسن پاشا بیا تعظیم وکړ او وې ویل: «خپلکار دې سلامت وي، زه کوراوغلو ښه پېژنم، هغه په هېڅ شي کرارولی نشو، خو د دار په پړي. ما ویلي وو چې د ده د ګستاخه پلار سترګې وباسئ، اوس هم غواړم کوراوغلو په خپلو لاسو غلی کړم. تر څو دا شوکمار ژوندی وي، خوږې اوبه به زموږ له ستوني تېرې نشي. باید چنلي بئل ته لښکر وباسو، یو ستر لښکر چې دوړې یې د لمر سترګه خړه کړي او یو سر یې په ختیځ او بل یې په لوېدیځ کې

ketabton.com - The Digital Library

وي. البته بیا امر، د خپلکار مبارک امر دی او موږ ستاسو سپي یو، چې له غپ غپ پرته نور څه د ویلو لپاره نه لرو.»

حسن پاشا بیا تعظیم وکړ او د خپلکار تر پښو لاندې ځمکه یې مچ کړه او پر ځای کیناست.

مجلس غلی وو. ټولو د خپلکار خولې کې سترګې ښخې کړې وې. په پای کې خپلکار وویل:«شاباس، حسن پاشا، شاباس ستا په پوهه او هوښیارۍ. رښتیا چې پوه سپی یې.»

حسن پاشا له دې ستاینې نه لکه د سپي په شان، چې د خپل خاوند مخې کې لکۍ ښوروي څو خپله خوښي او خوشالي څرګنده کړي، موسکی شو او ځان یې خوښ او خوشاله وښود. وروسته خپلکار وویل:«چنلي بئل ته له لښکر ایستلو پرته موږ بله چاره نلرو. دا ځل لښکر ایستل باید دومره ستر وي چې د چنلي بئل پر ډبرو لړزه پریوځي. حسن پاشا، ته له همدې ګړۍ نه پوره واک لرې، چې هر څنګه لازمه ګڼې سرتېري وګمارې او برید کولو ته چمتو اوسه. ته به د ټولو ځواکونو عمومي قوماندان یې، د برید تیارۍ ونیسه او د غره د شوکمارو کار پای ته ورساوه. که کوراوغلو تر پښو وغورځوئ، خپل صدراعظم به دې کړم.»

سترخان بیا مجلس ته مخ وګرځوه او وې ویل:«حاضرینو، پوه شئ او خبر شئ چې له دې ګړۍ وروسته حسن پاشا د لښکر عمومي قوماندان دی او پوره واک لري. هر څوک چې د ده له فرمان نه سر وغړوي، د دار پړی د هغه په انتظار دی.»

د مجلس خلک نه پوهېدل چې څه ووایي، زړونه یې له کینې او کرکې نه ډک شوي ول.

ketabton.com - The Digital Library

حسن پاشا د خپلکار له مجلس نه ووت او له ځنډ پرته توقات ته ولاړ او د سرتېرو گمارنه يې پيل کړه. د سرتېرو د گمارنې په وخت يې د خپل لاس لاندې پهلوانانو او سرگروپانو سره يې جنگي شوراگانې جوړولې، چې پر چنلي بئل باندې د برید نقشه جوړه کړي.

د دغو شوراگانو نه په یوې کې مهتر **موتوز**، چې ستر پهلوان وو، حسن پاشا ته وویل:«پاشا دې سلامت وي، موږ د خپلکار او ستاسو د ښو خاورې یو او پوهېږو چې ستاسو فرمان د خدای فرمان دی او هېڅوک حق نه لري ستاسو له فرمان نه سرغړونه وکړي. خو دا خبره هم ده که کوراوغلو په قیرآت سپور وي چې د ټولې دنیا خلک راټول شي بیا هم د ده د سر نه یو ویښته کمولی نشي. که غواړې کوراوغلو له منځه لاړ شي، لومړی باید آس یې تر لاسه وباسو او که داسې نه وي نو د کوراوغلو سره جنگېدل به هېڅ پایله و نه لري. د مهتر موتوز خبره د حسن پاشا په نظر عاقلانه ښکاره شوه، وې ویل: »موتوز، څوک چې په درد پوه شي، درمل یې هم پېژني. وایه، وگورو څنگه کولای شو قیرآت د کوراوغلو له لاسه وباسو؟»

مهتر موتوز وویل:«پاشا دې سلامت وي، قیرآت خو په پیسو اخیستلای نه شو، له سره تېر یو کس باید چنلي بئل ته لاړ شي یا د خپل سر وبایلي یا قیرآت غلا کړي او رایې ولي.»

حسن پاشا د مجلس خلکو ته وکتل. ټولو سرونه ښکته اچولي ول. د چا غږ پورته نه شو، ناڅاپه د مجلس پایزار ځای نه خیرن پرن پښې لوڅې گنجی راپورته شو. د مجلس خلکو وکتل، گنجی حمزه یې وپېژانده. گنجي حمزه نه پلار درلود او نه مور او نه کور او ژوند. هېڅ پته نه وه، چې له کومه خوري او چېرته څملي. په هېڅ جومات او مجلس کې چا ځای نه ورکاوه،

ketabton.com - The Digital Library

چې ځپلې به پټې کړي. د سپي ځای وو خو د ده نه وو. اوس يې دې جنګي شورا ته څنګه لار موندلې وه؛ يوازې په خپله پوهېده. پخوانيو ويلي دي، ګنجيانو ته زرهاو چلونه ورځي.

مطلب دا چې حمزه د مجلس منځ ته راغی او وې ويل:«پاشا، دا کار، زما کار دی. دلته پهلواني او د مټ زور په کار نه دی. بايد د چل نه کار واخيستل شي او چل زما پلرنی او نيکه نی کار دی. که مې وکړای شو قيرآت راولم نو راوستی به مې وي، که مې و نه شو کړای او کوراوغلو راباندې پوه شو، نو هېڅ نه کيږي، پرېږدئ د هېواد له زرهاو ګنجيانو څخه يو سر کم شي.»

حسن پاشا وويل:«حمزه، که دې قيرآت راووړ، د دنيا ټولې اړتياوې به دې پوره کړم.»

حمزه وويل:«يوازې د دنيا مال په درد نه خوري.»

پاشا وويل:«حمزه، بيګ (خان) به دې کړم، د خانۍ مقام به درکړم.»

حمزه وويل:«نه پاشا، دا هم يوازې زما د ستونزې غوټه نشي خلاصولی.»

حسن پاشا وويل:«تا به خپل زوی کړم.»

حمزه وويل:«نه، د مجلس خلک دې ستا نه لوګي شي. زه د دوی نه هېڅ يو يوازې نه غواړم او ته هم درې واړه يو ځای ما ته نه راکوئ. پرېږده ستا نه يو داسې څه وغواړم چې ما ته له دې درې واړو ډېر ګران وي او تا ته ارزان.»

حسن پاشا وويل:«وايه، وګورم څه غواړئ.»

حمزه وويل:«پاشا، زه دې لور غواړم.»

ketabton.com - The Digital Library

حسن پاشا د دې خبرې په اورېدو سره عصباني شو او د تخت بازو یې کلک په سوک وواهه او غږ یې وکړ:«دغه بې سره بې پښو احمق وباسئ. دغه ګنجی غواړي زما زوم شي...»

که مهتر مورتوز د ګنجي مرستې ته نه وای وردانګلي، جلادانو په هماغه دقیقه کې ټوټې ټوټې کاوه. مهتر موتوز د جلادانو مخه ونیوله او حسن پاشا ته یې وویل: «پاشا، ستا نه ځار شم، آیا د سترخان فرمان دې هېر کړی دی، چې په هر وزن چې وي د کوراوغلو کار ختم شي.»

حسن پاشا په کرار شو او د ځان سره یې حساب وکړ. ویې لیدل چې بله لاره نلري پرته له دې چې باید ګنجی حمزه پخلا کړي. له دې کبله یې حمزه ته وویل:«احمقه، آخر تا په دې جینۍ که څه لیدلي دي، چې له هر څه یې ښه ګڼې؟»

حمزه وویل:«پاشا، ته په خپله پوهېږې چې ګنجیان ټول د حریف په چل پوهیږي، ښه ده، زه هم بالاخره له ځان سره د دخل او خرج حساب وکړم. زه پوهېږم چې ته دغه درې واړه شیان یو ځای ما ته نه راکوې، یعنې هم مال او شتمني راکړی، هم ما حمزه خان کړی او هم مې خپل زوی. خو که لور دې وکړم ستا زوم به شم او د سړي زوم د هغه د زوی په شان وي، بیا مال او شتمني او مقام په خپله راځي.»

د مجلس ټولو خلکو د حمزه پر پوهه او زیرکۍ باندې شاباسي ووایه. حسن پاشا په فکر کې ولاړ. زړه یې هېڅ نه غوښتل خپله لور ګنجي حمزه ته ورکړي خو له بل پلوه یې فکر کاوه که چېرې قیرآت په لاس راشي، کوراوغلو به مات شي او دغه وخت به صدراعظمي ده ته ورسیږي. له دې کبله یې وویل:«حمزه، منم یې.»

ketabton.com - The Digital Library

حمزه وویل:«نه پاشا، داسې نه شي کېدای، زحمت وباسه دوه کرښې لوظنامه ولیکه او په پای کې یې مهر کړه او ماته یې راکړه، چې په تخرگ جیب کې یې کېږدم. بیا مهلت وټاکه، که د مهلت تر پایه مې قیرآت راوړ، لور دې راکړه، که مې را نه وړ، ووایه چې څټ مې ووهي.»

حسن پاشا له مجبورۍ دوه کرښې لوظنامه ولیکله او مهر یې کړه او د گنجي حمزه په لاس یې ورکړه او مهلت یې وټاکه. گنجي حمزه کاغذ واخیست، غبرگ یې کړ او په تخرگ جیب کې یې کیښود او د جیب خوله یې په لوی خنجکی ستنې ټینگ وتاړه. او وې ویل:«اوس اجازه راکړه چې رخصت شم.»

*　　　*　　　*

اوس موږ حسن پاشا او نور پر خپل ځای پرېږدو، چې د لښکر ایستلو او پر چنلي بئل باندې د برید تیاری ونیسي، او ځو په گنجي حمزه پسې.

گنجي حمزه چموسې په پښو کړی او پېتاوې یې وتړلې، یوه مړۍ ډوډۍ یې په دستمال کې تاو کړه او پر ملا پورې یې وتړله او ډانگ یې په لاس کې واخیست او روان شو.

د شپې او ورځې یې مزل کاوه، واټونه یې وهل، د ونو تر سیوري لاندې به یې لږه غوندې دمه کوله، او په غرونو او درو کې به پورته ښکته تلو څو یو ورځ مازیگر د چنلي بئل د غره لمن ته ورسېد.

کوراوغلو د یو غټ کمر پر سر ولاړ وو، د کاروان د تگ لاره یې څارله چې گوري یو کس چنلي بئل ته راروان دی او په خړپوڅو غره ته خیژي.

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو تر هغه ایسار شو چې گنجې حمزه د کمر بېخ ته راورسېد او پورته ختلو باندې یې شروع وکړه. کوراوغلو راکوز شو او د گنجي حمزه مخه یې ونیوله او ورته یې وویل:«و نه ښورې! وایه څوک یې! له کومه راځې او چېرته ځې؟ حمزه ناڅاپه سر را پورته کړ، گوري یو ځوان یې مخې ته ولاړ دی، داسې ځوان چې سړی جرئت نشي کولای مخ ته یې وگوري، سترگې یې له غضبه ډکې او بریتونه یې د گڼو د ښکر په شان تاو را تاو خښېدلو او څیرولو ته تیار، توره یې تر ملا داسې چې سړي به له ځان سره وویل:«دغه توره به هېڅکله د خانانو او د خلکو د دښمنانو د وینو تویولو څخه مړه نشي. وگوره توره څنگه په خپل تېکي کې د خپگان احساس کوي! د دغې تورې اوسپنه یې گواکې په کینې سره ویلې کړی ده! ته به وایې چې د کوراوغلو توره تل تا ته وایي: اې کینې، ته هم د مینې په شان سپېڅلې یې! موږ نشو کولای خلکو ته خپله مینه ثابته کړو، مگر دا چې د خلکو له دښمنانو سره کینه وکړو، ته د ظالم د وینې په تویېدو سره مظلومانو سره مینه کوي.»

گنجي حمزه په لومړي نظر کوراوغلو وپېژانده خو ځان یې په تګې وواهه او وې ویل:«په کوراوغلو پسې گرځم.»

کوراوغلو پوښتنه وکړه: «له کوراوغلو سره څه کار لرئ؟»

حمزه وویل:«درد او بلا دې زما پر ځان! زه مهتر یم شپې او ورځې مې د خانانو او پاشاگانو په نوکرۍ کې خوشې تېرې کړي دي. د چنگښو نه ډکو ډنډونو اوبه مې دومره څښلي دي، چې شونډې او تالو مې له ختو نه پړسېدلي دي، کاشکې زما پر ځای مور مې یو تور سپی زیږولی وای او زه یې په دې مصیبت باندې نه وای اخته کړی. څنگه چې سر مې گنجی دی، په هېڅ ځای کې تم کېدای نه شم، هر څومره چې تکلیف وباسم او ور ته کار

ketabton.com - The Digital Library

وکړم، خو چې پوه شي سر مې ګنجی دی، شړي مي. نو د ګنجي توب له لاسه راباندې دا ښکلې او پراخه دنيا تنګه شوې ده. نه پوهېږم څه خاورې پر سر باد کړم. اوس راغلی يم کوراوغلو ووينم. د قدمونو يې ځار شم. اورېدلي مي دي پراخه سينه او ځوانمردي لري او ډوډۍ له هيچا نه سپموي. يا به مې پرېږدي د دسترخوان پاتې شونې يې وخورم او د يوې ګټې او سوړي منځ کې د خپل عمر وروستنۍ ورځې تېرې کړم يا دا چې له تنه مې سر جلا کړي، چې د تل لپاره د درد او غم نه خلاص شم، له دغه بې فايدې سر نه، چې هېڅ ارزښت نه لري د کوراوغلو تر قدمونو ځار کړم.»

ګنجي حمزه خپلې خبرې بس کړې او په های های ژړلو او اوښکو تويولو يې پيل وکړه، داسې يې ژړل او اوښکې يې تويولې، چې پر حال يې د کوراوغلو زړه وسو او وې ويل: «پاڅه ځو! کوراوغلو زه خپله يم.»

حمزه چې دا خبره واورېدله د کوراوغلو پښو ته پرېوت او وې ويل:«ستا نه ځار کوراوغلو، ما له خپله دره مه شړه! پر ما رحم وکړه!»

کوراوغلو، حمزه له ځمکې راپورته کړ او وې ويل:«پاڅه، ته خو آخر سړی يې! بايده نه دی، چې سړې دې د يوې مړۍ ډوډۍ په خاطر د چا پښو ته پرېوزي.»

ګنجی حمزه راپورته شو. کوراوغلو وويل:«ښه، وګورم څه کار دې له لاسه کېږي.»

حمزه وويل:«کوراوغلو، زه درنه ځار شم، زه پوهېږم چې ته نشې کولای ما په دې ګنجي سر سره کبابي او د شرابو وېشونکی وټاکې، همدومره چې يو آس زما په لاس راکړې او در ته يې وروزم، خوښ يم. پلار او نيکه مې هم دا کار کاوه.»

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو، گنجي حمزه له لاسه ونیو او یارانو ته یې راووست.

یارانو یې وویل:«کوراوغلو، دا دې له کومه پیدا کړ؟ ښه ده هر څه چې غواړې ور یې کړو او په خپله مخه لاړ شي. پاتې کېدل یې په چنلي بئل کې ښه نه دي.»

کوراوغلو وویل:«خو هېره کړې مو ده چې موږ د همدغسې کسانو، د همدغسې بېوزلانو په خاطر په چنلي بئل کې جنګیږو؟ اصلاً موږ په چنلي بئل کې د څه شي لپاره راټول شوي یو؟غواړم دا را ته ووایئ.»

د یارانو نه یو تن، دلي حسن وویل: «کوراوغلو، رښتیا چې ته یو واقعي انسان یې، د نه خلاصېدونکې کینې تر څنګ نه خلاصېدونکې مینې ستا په ځان او زړه کې ځای نیولی دی، کله چې څوک د مینې اړ ووینې، حاضر یې چې له هر څه لاس واخلې او کله چې له دښمن سره مخامخ کېږې د خپل هر څه نه لاس اخلې څو په ټول ځواک سره له دښمن سره کینه وکړې او وینه یې توی کړې.»

د چنلي بئل ښځې د غاړو څنډو نه راغلې وې او خبرو ته یې غوږ نیولی وو، نګار بي بي، د کوراوغلو مېرمن، سړي او ښځې ټیل وهلې او رامنځ ته شوه او دلي حسن ته یې مخ واړوه او وې ویل:«دلي حسنه، ته رښتیا وایې، خو دا ځل لکه چې کوراوغلو بې ځایه مینه کوي، څه پته ده چې دا سړی د حسن پاشا جاسوس وي؟»

چا څه و نه ویل. کوراوغلو چې ولید یاران یې ټول د نګار پر خوا دي، وې ویل: «دا بیچاره،که ټول اور هم شي، نشي کولای ان د خپلو پښو لاندې ځای وسوزوي. نو ښه به وي چې پرېږدو یې په چنلي بئل کې پاتې شي

ketabton.com - The Digital Library

او یوه مړې ډوډۍ وخوري او د خپل عمر څو وروستۍ ورځې له سرخوږۍ پرته تېرې کړي.»

ګنجي حمزه په چنلي بئل کې پاتې شو. نس یې مړاوه. او هغه چارې به یې سرته رسولې چې یارانو به ورته ښوولې. چارې به یې دومره ژر او ښې سر ته رسولې چې ژر یې د ټولو درناوی لاس ته راوړ. چنلي بئل داسې ځای نه وو، چې د سړي درناوی په کالیو او شتمنیو پورې وي. اصلاً هلته چا شتمني نه درلوده. هر څه چې ول د ټولو مال وو. ټولو کار کاوه، ټول جنګېدل، ټولو خوړل او پر خپل وخت به یې د شرابو، نڅا او د ساز مجلسونه جوړول. کوراوغلو چې کله د ګنجي حمزه چالاکي ولیده، د یو مرګوني یابو ساتنه یې ده ته ورکړه. دغه یابو ته چې، ډېر زیات کار یې کړې وو او پیټي یې چلولي ول، له پوټکي او هډوکي پرته نور څه ورته نه ول پاتې.

ګنجي حمزه د یابو ساتنه او پالنه په داسې ډول پیل کړه چې سهار او مازیګر به یې پالنه کوله او د زړه له کومې به یې خدمت کاوه. کله به یې هم د نورو آسونو اوربشې او واښه پټول او د یابو مخې ته به یې اچول. یابو به خوړل. ورځ په ورځ به یې بڼه ښه کېده، په لږه موده کې پوره چاغ او کار کولو ته تیار شو.

یوه ورځ کوراوغلو غوجل ته سر ورښکاره کړ. یابو یې ولید. لومړی یې و نه پېژانده. وروسته چې یې وپېژانده حیران دریان پاتې شو. وې ویل:«حمزه، زه هېڅ نه پوهېدم چې ته د آسونو دومره ښه پالنه کولای شې.»

حمزه وویل:«ځار دې شم کوراوغلو، ما چې سترګې غړولي دا کار کوم او پلار او نیکه مې هم دا کارونه کول...»

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو وویل:«نه پوهېږم څنګه شو چې سږکال دورآت څه خوار او کمزوری شوی دی. ښه ده هغه تا ته وسپارم. حمزه باید داسې پالنه یې وکړې چې ډېر ژر قیرآت ته ورسېږي.»

ګنجي حمزه د دې خبرې په اورېدو سره په زړه کې ګوړې ماتولې. نن دورآت درته سپاري، خامخا سبا به د قیرآت وار راشي.

د کوراوغلو یاران، ښځې وې که نارینه، خوښ نه ول چې دورآت حمزه ته وسپارل شي. خو حمزه د کوراوغلو په زړه کې داسې ځای نیولی وو، چې کوراوغلو ورباندې لږ شک هم نه کاوه.

دورآت او قیرآت دواړه په یوه غوجل کې ساتل کېدل. د دواړو آسونو په پښو کې زولانې وې، چې ښېلې ښېلې کلي ګانې یې درلودې. سربېره پر دې د هر یوه په غاړه کې کلک ځنځیرونه پراته ول چې هغه هم د غوجلې پر دیوالونو باندې میخ شوي ول. هېڅ پهلوان نشو کولای د آسونو مخې ته ورشي او که په یو ډول ور هم شي  په هېڅ ډول نشي کولای آسونه ایله کړي او بو یې ځي. کلي ګانې خپله کوراوغلو ساتلې.

کوراوغلو، حمزه بوت او دورآت یې په لاس ورکړ. حمزه د آس په ساتنه کې سخت کوښښ کاوه. خو کله چې آس په چاغېدو راغی، ګنجي حمزه ورته اوربشې او واښه کم کړل. آس بیا په خوارېدو شروع وکړه. کوراوغلو د حمزه نه پوښتنه وکړه: «حمزه ولې دورآت بیا ورځ په ورځ کمزورې او خوارېږي؟ لکه چې ښه ساتنه یې نه کوې؟»

ګنجي حمزه وویل:«هر څه چې زما له لاسه پوره وي نه یې سپموم. خو فکر کوم دورآت تازه هوا ته اړتیا لري. آخر، کوراوغلو، دغه بې ژبې حیوان

ketabton.com - The Digital Library

شپه او ورځ په غوجل کې تېروي. د پښو او څټ نه هم تړل شوی، هرو مرو د کمزورۍ سبب یې همدا دی.»

کوراوغلو د دورآت د زولنې کلي راواخیسته او حمزه ته یې ورکړه، چې کله نا کله آس بهر وباسي څو تازه هوا پرې ولګي.

بیا یارانو یې نیوکه وکړه، چې بایده نه دی سړی په هر کس او ناکس باور وکړي. که ګنجی حمزه دورآت وتښتوي، څه کولای شو؟

کوراوغلو بیا ښځې او نارینه غلي کړل او وې ویل:«هېڅ مه ډارېږئ. هېڅ نه کېږي.»

ګنجي حمزه په څو ورځو کې دورآت دومره تیار کړ، چې اصلاً د کمزورۍ او خوارۍ نښه په کې پاتې نشوه.

ورځې یو پر بل پسې تېریدلې او حمزه ډارېده چې و به نشي کړای پر وخت قیرآت حسن پاشا ته ورسوي. مهلت هم په ختمېدو وو. له ډېرې مودې فکر او خیال او شک او اندیښنې وروسته یې یوه شپه له ځان سره وویل:«که زه یو کال دوه کاله هم دلته پاتې شم، کوراوغلو به هېڅکله د قیرآت کلۍ ماته رانکړي او سر ببره پر دې په توقات کې داسې څوک نشته، چې د قیرآت او دورآت تر منځ فرق وکړي. ښه ده همدا شپه دورآت بوځم او حسن پاشا ته یې ورکړم او ورته ووایم چې قیرآت همدا دی. بیا به د پاشا لور واخلم او څو ورځې به عیش او نوش وکړم او د دنیا غم به هېر کړم. څو پورې به د هر کس او ناکس د دسترخوان جوټه خورم او له هر ځایه به شړل کیږم؟ د پاشا لور چې مې ښځه شوه، نور څوک را ته په کږه سترګه نشي کتلای، نور څوک جرئت نه کوي ما ته ګنجی حمزه ووایي. زه به حمزه بیګ شم، د پاشا زوم! د پاشا د زوم زړه چې هر کار وغواړي، کولای شي. هغه

ketabton.com - The Digital Library

وخت به د هغه ټولو شپو تلافي وکړم په کومو کې چې به نار وم او خاورو خزلو کې پروت وم. په ییلاق کې به ځانته پرتمینې ماڼۍ جوړې کړم. بې شمېره مینځې او نوکران به لرم، په میلیونو میلیونو پیسې به لګوم. ګران بیه شراب به څښم. د زرکو، چرګانو او پسونو غوښې او کبابونه به خورم. ګران بیه او ښکلې جامې به اغوندم. ځانګړي ښکار ځایونه به لرم. مهتر، پهره دار او څه او څه به لرم!... آخ خدایا! له ډېرې خوشالۍ لېونی کېږم!...

ketabton.com - The Digital Library

## له چنلي بئل څخه د ګنجي حمزه تېښته

ګنجي حمزه دا فکرونه کول او تلو ته تیارېده، دورآت یې زین کړ او سپور شو او روان شو او د سیلۍ په شان د چنلي بئل نه لرې ووت. په سبا یې، دلي مهتر آسونو ته سر ورښکاره کړ. ګوري چې نه دورآت شته او نه ګنجی حمزه، پوه شو چې اوبه له ورخه تېرې دي، په غضب او چیغو کوراوغلو ته راغی او راویښ یې کړ او ورته یې وویل: «پاڅه چې نور د خوب وخت نه دی، ګنجي حمزه دورآت تښتولی دی!»

په چنلي بئل کې غوغا ګډه شوه. یارانو، ښځو او نارینه وو، د کوراوغلو په ملامتولو شروع وکړه:«مګر تا ته مو نه وو ویلي، چې په هر کس او ناکس باور کول په کار نه دي؟ فرق نه لري که د پهلوان آس بوځي یا یې ښځه، دواړه د ده ناموس دي.تر اوسه زمونږ له ډاره د چنلي بئل په آسمان کې مرغۍ نه شوه الوتلای. د کوراوغلو او چنلي بئل او یارانو له نامه به خانان، پاشاګان او سترخان لړزېدل، خو اوس ګورئ چې زمونږ کار دې ځای ته ورسېده چې یو بې نامه او نښانه ګنجی بوډا راغی له دې ځایه یې آس وتښتاوه او لاړ. همدا نن او سبا، چې هر ځای ته خبر ورسېږي له هرې لورې به دښمنان زمونږ پر خوا مخه کړي. کوراوغلو تا په خپل لاس داسې کار وکړ، که چېرې ټول جهان سره لاسونه یو کړی وای، نه یې شو کولای. اوس وګورو چې دورآت به له کومه پیدا کړی؟»

کوراوغلو وویل: «دورآت نه شته خو قیرآت شته. وربانديې سپرېږم او ځم دورآت پیدا کوم. لږ مې ملامت کړئ.»

ketabton.com - The Digital Library

نګار بي بي رامخ ته شوه او وې ویل:«ولې به دې نه ملامتوو؟ تا د چنلي بئل قانون مات کړ. مګر تا پخپله موږ ته نه دي ویلي، چې د بې ځایه مینې او رحم د احساس قرباني نه شو؟ مګر تا پخپله نه دي ویلي، چې ځینې وخت یوه بې ځایه مینه په زرهاو خیانتونه او کشالې په ځان پسې راوړي؟ تا پخپل بې ځایه رحم او شفقت سره چنلي بل ته د جاسوسانو او خیانتکارانو پښې راوغزولې.

ته څه پوهېږې چې دغه جاسوس له کومه راغلی وو او دورآت یې چېرته بوت چې ته وایې ورپسې ځم او پیدا کوم یې؟ دورآت لاړ او اوس باید د غلیم برید ته منتظر اوسو...د چنلي بئل اوسپنیز دیوال درز کړی، دا کار به زموږ غلیمان خوشاله او زړه ورکړي.»

کوراوغلو سخت په غصه وو، خو څنګه چې پوهېده پخپله دې ګناهکار دی هېڅ غږ یې نه کاوه او یوازې یې د قهر او خپګان له زوره خپل بریتونه ژوول او تاوېده راتاوېده به.

ناڅاپه جګ شو او **ایواز** ته یې مخ ورواړه او وې ویل:«ایوازه! ماته شراب راوړه!»

پهلوان ایواز شراب راوړل. کوراوغلو اووه جامه شراب یو په بل پسې پر سر راواړول. بیا یې دلي مهتر ته مخ واړوه او وې ویل:«آس زین کړه! قیرات یې زین کړ او د هغه مخې ته یې راوست. دغه وخت کوراوغلو ګونګ وو او ژبه او شونډې یې نه خوځېدلې. مخ یې دومره سور شوی وو، چې سړي خیال کاوه اوس به اور واخلي. قیرآت چې پر خپلې شا کوراوغلو ولید، د هغه په غصه پوه شو، سُم یې پر ځمکه وواهه او داسې دوړې یې راپورته کړې چې پهلوان یې له سترګو پناه کړ. دغه وخت کوراوغلو یوه چیغه

ketabton.com - The Digital Library

وويسته كه د جگړې ډگر وای نو د لښکر زړه به چاودلی وای او وسله به يې پر ځمکه لوېدلی وای.

قيرآت د کوراوغلو د چيغې په ځواب کې په دواړو پښو ودرېد او وزرې او غاړه يې جگه کړه او داسې وشنېده، چې له لوړو څخه ډبرې ولړزېدې او راوغورځېدې او د آواز انگازې يې د چنلي بئل د غره په سل هاوو ځايو کې تاوراتاو شوې، ته به وايې په سلهاوو آسونه وشنېدل. دغه وخت کوراوغلو او آس يې د گرد او دوړو له منځه د برېښنا په شان ووتل او د غره څخه راکښته شول. لږه شيبه وروسته د چنلي بئل يارانو د ښار د کمر له سره د دښتې په زړه کې يوه سپينه ليکه وليده چې په تيزۍ سره لرې وځي او سپينه کرښه شاته پرېږدي.

گنجی حمزه د ځان له ډاره په هېڅ ځای کې تم نه شو. آس يې زغلاوه او روان وو. کله به يې شا ته هم کاته او آس به يې واهه. لږه لاره پاتې وه چې ځلوېښت ژرندو ته ورسيږي چې بيا يې شا ته وکاته، ويې ليد د لېرې نه داسې دوړې هوا ته پورته کيږي ته به وايې چې خاورې باديږي، لږ چې ځير شو کوراوغلو يې وليد چې قيرآت زغلوي او لوړې ژورې ته هېڅ نه گوري او د سيلۍ په شان را روان دی، که پر ځمکه وغورځيږي زر ټوټې به شي.

د گنجي حمزه خوله وچه شوه، ژبه يې په خوله کې نه چلېده او احساس يې وکړ، چې ډېر پخوا مړ شوی او په قبر کې پروت دی. نور يې له لاسه څه پوره نه وو پرته له دې چې په ډېره منډه يې ځان د ژرندې ور ته ورساوه او راکوز شو او د دورآت جلو يې د ور په درشل پورې وتاړه او په تلوار يې ژرندگري ته غږ کړ، ای ژرنده گره بدبخته، ژر راووځه، دروازې ته دې اجل رارسېدلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

ژرندګړی ژر راووت خو په پښو نه شو ودرېدلای، په ډار او اندېښنه یې پوښتنه وکړه: «وروره څه خبره ده؟ زما بوډا نه څه غواړې؟»

حمزه وویل: «زه هېڅ نه غواړم. ګوره هغه چې را روان دی کوراوغلو دی د چنلي بئل نه راځي. آسونه یې ناروغه شوي دي، هر راز دارو درمل ورته ګټه و نه کړه، نو حکیمانو او کیمیاګرو ورته ویلي دي، چې د ژرندګري ماغزه د دې مرض دوا ده او اوس کوراوغلو د ژرندګري په ماغزو پسې ګرځي چې آسونه یې ښه شي. که نه نو له آسونو پرته د خانانو او پاشاګانو سره نه شي جنګېدلی. زه حسن پاشا رالیږلی یم، چې ژرندګري خبر کړم چې پر وخت ځانونه بچ کړي. مګر اوریدلي دې نه دي، چې حسن پاشا غواړي چنلي بئل ته لښکر وباسي.»

ژرندګړی وارخطا او غلی وو، آخر یې وویل:«ولې مې نه دي اوریدلي، خو اوس وایه چې څه خاورې پر سر باد کړم؟ اووه اته کسه ډوډۍ خواره لرم چېرته نه شم تښتېدای.»

ګنجي حمزه وویل:«ژر شه جامې دې وباسه زما جامې واغونده او لاړ شه د ناوې لاندې پټ شه. زه به په یو ډول کوراوغلو تېر باسم او که مې تېر نه باسلو، پرېږده چې ما مړ کړي. ته ښځه او اولاد لرې. هېڅ مې زړه نه غواړي چې اته کسه ډوډۍ خور یتیمان او بې سرپرسته پاتي شي. زه یو وزګار او بې کسه سړی یم، هسې هم له ژونده ستړی شوی یم.»

ژرندګړي سمدلاسه خپلې جامې وویستلې او د ګنجي جامې یې واغوستلې او لاړ د ژرندې ناوې لاندې پټ شو. ګنجي حمزه هم ژر د ژرندګړي جامې واغوستلې او ځان یې د اوړو ډېری ته وغورځاوه او سر مخ یې په وړو سپین کړ.

ketabton.com - The Digital Library

ناڅاپه کوراوغلو لکه اجل د ژرندې ور ته راورسېد او غږ يې وکړ:»ای ژرندګړي، ژر بهر ته راوځه!«

ګنجي حمزه د ژرندګړي په جامو کې راووت او وې ويل:»ما ته وايې؟ په خدمت کې حاضر يم.« کوراوغلو وويل: »هغه پر آس سپور، چې همدا اوس له ما نه مخکې دلته راغی، څه شو؟«

ګنجي حمزه وويل: »لاړ، د ناوې لاندې پټ شو. نه پوهېږم چې څه کار يې کړی، چې ته يې وليدي رنګ يې والوت او لاړ د ناوې لاندې پټ شو. ما ته يې هم وويل چې چا ته يې ځای و نه ښيئم.«

کوراوغلو په ټوپ له آسه پلی شو او وې ويل:»ته زما د آس جلو ونيسه، زه پوهيږم چې څه ورسره وکړم.«

بيا يې د قيرآت جلو د حمزه په لاس کې ورکړ او دننه ورغی. ټيټ شو او وې ويل: »حمزه راوځه!«

ژرندګړي لا پسې ځان لېرې کړ او وې ويل: »ولې بهر ته درووځم؟ زه هغه ماغزه نه لرم، چې ستا د آسونو مرض ښه کړي. ښه ده چې دلته مړ او بهر ته و نه ووځم.«

کوراوغلو وويل: پرېږده احمقه! مرض څه دی؟ ماغزه څه دي؟ درته وايم راووځه. مه مې عصباني کوي.«

ژرندګړي بيا ځان لا راکاږه او کوراوغلو هم ور ننه وت څو بالاخره د ژرندګري پښه يې ونيوله او بهر ته يې راوويست، خو چې سترګې يې ورباندې ولګېدې وېې ليد چې ګنجي نه دی، کوم بل سړی دی. هغه وخت پوه شو، چې ګنجي حمزه ډېر بد تېر ايستلی دی، فوراً يې بهر ته رامنډه کړه. بهر يې څه وليد؟ ګنجي حمزه يې وليد پر قيرآت سپور دی او حرکت ته

ketabton.com - The Digital Library

تیار، هغه وخت چې حمزه د دورآت پالنه کوله، لنډه آشنایي یې هم د قیرآت سره پیدا کړې وه. سربېره پر دې کوراوغلو په خپله د هغه جلو د حمزه په لاس ورکړې وو او همدا وجه وه، چې حمزه په ډېر لږ نوازش او غوړه مالي سره توانېدلای وو پر قیرآت سپور شي. کوراوغلو نور ځمکه او آسمان نه پېژانده. قهر یې سترګې ړندې کړې وې. غوښتل یې توره راوباسي او وار وکړي خو فکر یې وکړ چې که قیرآت یو ګام واخلي نو مرغۍ هم د هغه د پوندو ګرد ته نشي رسېدلی. بیا به اوبه له ورخه تېرې شوې یي. له دې کبله لږ په آرام شو او حمزه ته یې وویل:«ای حمزه، تېز راغلی یم. قیرات خولې شوی، که داسې ورباندې سپور شې نو آس به ناروغه شي. راکوز شه لږ یې په لاره بوځه چې خوله یې وچه شي.»

حمزه وویل: «پروا نه لري. بیړه نه لرم. کرار کرار ځم خوله به یې په خپله وچه شي.»

حمزه دا وویل او آس یې روان کړ. کوراوغلو ولید چې حمزه آس ډېر وران زغلوي، جلو یې داسې ټینګ راکاږي چې نږدې دی د آس شونډې څیرې شي. کوراوغلو بې تابه شو او وې ویل:«نمک حرامه ولې زما په مخ کې آس داسې آزاروې؟ مګر نه پوهېږې، چې قیرآت زما د سترګو تور دی؟ د هغه ډوډۍ او مالګې حق دې ښه په لاس راکړ چې تا ته مې درکړې وه.»

حمزه وویل:«کوراوغلو، ته پهلوان یې، د ځوانمردۍ او سخاوت نوم دې تللی، له یوې میاشتې نه لږه مې ستا د دسترخوان جوټه خوړلې ده، نو ولې یې راته یادوې؟ تاسره نه ښایي، اوس یو آس څه ارزښت لري، چې دومره عذر او زاري کوی؟»

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو وويل:«مکاره حمزه، تګي او برګي مه کوه. ښه پوهېږې، چې قيرآت يعنې څه. اوس که خانان او پاشاګان واوري، چې قيرآت يې وړی دی، څه پوهېږې چې څومره خوشالي به وکړي؟))

حمزه وويل: «کوراوغلو، زه بايد لاړ شم. دا خبرې دې په ځان وسپاره.» غوښتل يې چې روان شي چې کوراوغلو وويل:«ای حمزه، غوږ ونيسه وګوره څه درته وايم. پوهېږم چې ته قيرآت نه شې ساتلی. رښتيا ووايه چا چنلي بئل ته راستولی وې؟»

حمزه وويل:«کوراوغلو، پوه شه او خبر شه، هر څه چې مې په چنلي بئل کې تا ته ويلي ول، رښتيا ول. دې ګنجي سر پر ما باندې دا دومره ښکلې او پراخه دنيا راتنګه کړې ده. هر چېرته لاړم لکه د سپي يې وشړلم. د هېچا نه خوښېده چې زما مخ ته وګوري. اوس قيرآت بيايم حسن پاشا ته يې ورکوم څو زه هم ښه ورځ ووينم او د خپل بخت نه غچ واخلم.»

کوراوغلو وويل: «دا دې خپل فکر وو، که حسن پاشا درته دا لار ښودلې ده؟»

حمزه وويل: «حسن پاشا.»

کوراوغلو فکر وکړ او وې ويل:«ته څه خيال کوې، چې چا پر تا دا توره ورځ راوستې ده؟»

حمزه وويل:«(څه پوهېږم، خامخا زما بخت به همداسې وو. شايد هم خدا... زه څه پوهېږم. يوازې غواړم له خپل بخت نه غچ واخلم.»

کوراوغلو وويل:«حمزه، پر تا هم زموږ د نورو ميليونو هېوادوالو په شان د حسن پاشا غوندې کسانو له لاسه توره ورځ راغلې، ته د دې پر ځای چې له هغوی سره وجنګېږې، مرسته ورسره کوی. ته چنلي بئل ته، ميليونو

ketabton.com - The Digital Library

هېوادوالو ته دې خيانت کوې. قيرآت راوله چې ببرته چنلي بئل ته ستانه شو. ته د چنلي بئل له يارانو څخه يې او حسن پاشا په وړاندې وجنګېږه، ته له دې لارې کولای شې انتقام واخلې او نورو ميليونو هېوادوالو ترڅنګ نيکمرغه شې.»

ګنجي حمزه وويل: «کوراوغلو، ما خپله لاره موندلې ده. خپلو هېوادوالو سره هېڅ علاقه نه لرم. هر څوک د ځان د هوساينې په فکر کې دی. زه لاړم.»

کوراوغلو وويل:«خيانتکاره، آس راکړه. څومره پيسې غواړې، که شتمني غواړې، دربه يې کړم.»

ګنجي وخندل او وې ويل:«کوراوغلو، تا چې دنيا په خپله ليدلې، مګر نه پوهېږې چې په خپله خداې هم ګنجيان نه شي تېر ايستلای؟ ښه، فرض کړه چې زه له آسه کوز شم، ته ما ژوندی پرېږدی چې هر څومره پيسې غواړم، را يې کړی؟ کوراوغلو جانه، جوړجاړې نه شم کولای، خوشې مې کړه لاړ شم اوږده لار مې مخې ته ده. زه توقات ته ځم که ته رښتيا کوراوغلو يې، په خپله راشه او قيرآت د حسن پاشا نه واخله، پرېږده چې زه هم له دې لارې نه د شتو څښتن شم. نور له ما نه لاس واخله.»

کوراوغلو وويل:«حمزه، پرېږده د آس بيه درته ووايم چې تېر دې نه باسي. د قيرآت بيه له اتيا زره سرکرده، اتيا زره پسونو، او اتيا زره خزانو او پيسو نه، له اتيا زره آسونو او اتيا زره غوايانو نه پورته ده.

حمزه وويل:«کوراوغلو، ببغمه اوسه زه قيرآت د دنيا په مال نه بدلوم. حسن پاشا راسره شرط ايښی دی، چې خپله وړه لور دونا بي بي ما ته

ketabton.com - The Digital Library

راکړي، زه لاړم ته هم خپله پوهېږې که قیرآت دې خوښېږي توقات ته راشه زه هم هلته یم. ژمنه کوم چې درسره مرسته وکړم د خدای په آمان.»

کوراوغلو نور ټینګ نه شو او چیغه یې کړه:«ځه خاینه، خو پوه شه، که سر دې لکه بادرنګ له تنه جلا نه کړم کوراوغلو به نه یم او حسن پاشا ته هم زما پیغام ورسوه او ورته ووایه که ژبه دې د خټ له طرفه را و نه باسم کوراوغلو به نه یم. که کور ورته ګور نه کړم، بی غیرته به یم. که قیرآت د خانانو په وینو کې و نه زغلوم، سړی به نه یم.»

حمزه وویل:«دا ستا او د حسن پاشا ستونزه ده، په ما پورې اړه نه لري.»

حمزه دا وویل او په آس یې آواز وکړ او د سترګو په رپ کې پناه شو. کوراوغلو یوازې د ژرندې په ور کې پرېوت او چیغه یې کړه. بیا کیناست او ساز یې سینې ته راټینګ کړ او افسوسناکه ساز یې وغږاوه او عاشقانه او له کینې نه ډکه سندره یې وویله.

ketabton.com - The Digital Library

# کوراوغلو او یاران یې

اوس یې څنګه کولای شو چنلي بئل ته ستون شي او د یارانو مخ ته وګوري؟ که نګار، دلي حسن، دلي مهتر، ایواز د میرچي اوغلو او نور پهلوانان پوښتنه وکړي، چې قیرآت دې څه کړ، څه ځواب به ورکړي.

ګنجي حمزه یې په سینه داسې داغ ایښودلی و، چې هېڅ سړو اوبو یې درد نه شو کرارولی. ژرنده ولاړه او چوپه وه او څه ځورونکې یوازیتیا وه. ساز یې یوې خوا ته وغورځاوه او پړمخې پرېوت او منګولې یې ځمکې کې ښخې کړې.

شپه شوه. ژرندګړی لاپخوا تښتېدلی وو.کوراوغلو یو وخت سترګې وغړولې ګوري لمر خیره وهلې. ډېر وږی وو. دورآت هم ډېر وخت اوربشې نه وې خوړلې. په دې وخت کې یو سړی له دوو غویانو سره چې بار پرې پروت وو، راغی. د کوراوغلو نه یې تپوس وکړ:«ملګری، ژرندګړی چېرته دی؟»

کوراوغلو وویل: «ژرندګړی نه شته، اوس زه دلته یم.»

سړی باور نکړه.کوراوغلو نور د خبرو مجال ورنکړ او سمدلاسه یې جوالونه د غویانو له شا نه راکوز کړل.

دوه جواله اوربشی وی هغه یې د دورآت مخې ته واړولې. دوه جواله غنم یې په ژرنده واړول چې وړه شي. سړي غوښتل یو څه ووایي چې د کوراوغلو غضبناکه کتلو پر ځای کښیناو او ژبه یې ګونګه شوه. څو لمر ښه تودېدو، کوراوغلو هم وړه اغږلي وو او هم یې ډوډۍ پخه کړی وه. بیا یې د یو غویي سر پری او کباب یې کړ او کیناست خوړلو ته، چې موړ شو سړي ته یې وویل: اکا ما وبخښه چې بیړه مې وکړه، څومره پیسې تا ته درکړم؟

ketabton.com - The Digital Library

مخې ته راشه! له ما مه ډارېږه.

د سرې ژبه تړلې وه، کوراوغلو د غوږي او غنمو او اوربشو بيه څو چنده زياته حساب کړه او هغه ته يې ورکړه. بيا په دورآت سپور شو او د چنلى بئل پر خوا روان شو

*　　　*　　　*

ياران، نارينه او ښځمنې، کوراوغلو ته ډېر په اندېښنه کې ول، سترګې په لار ول چې کوراوغلو به کله راستنېږي. ناڅاپه يې کوراوغلو وليد چې دورآت يې له جلوه نيولى او راروان دى. سر يې ټيټ نيولى او سر او مخ يې د ژرندګړى په شان په وړو سپين دي. هماغه شيبه پوه شول، چې حمزه په څلويښت ژرندو کې، کوراوغلو تېر باسلى دى. ټولو سرونه ټيټ کړي ول، نه سلام او نه کلام. چا يې د حال احوال پوښتنه هم ونه کړه.

کوراوغلو چې راورسېد ايواز ورمخې ته شو او وى ويل: ښه سودا دې کړى ده کوراوغلو، وايه وګورو څومره سر دې دورآت پسې ورکړ؟ ژرندګړيتوب دې هم ياد کړى دى، مبارک دې شه.

کوراوغلو په کراتو مراتو سفرونه کړي ول، خو څه وخت به چې د سفر نه راستون شو هېڅکله د يارانو دومره سوړ چلند سره نه وو مخامخ شوى. ښځو به ورنه مخ اړه وو او سړو يې د سلام ځواب نه ورکاوه. د ټولو نه بد د ايواز زهرجنې خبرې وې، چې د غر په څېر درنې او زړه ځورونکې وې. کوراوغلو داسې حال درلود، چې نژدې وو له سترګو يې اوښکې روانې شي. په پاى کې يې ساز سينې ته جوخت کړ او يوه غمژنه سندره يې ووېله:

ketabton.com - The Digital Library

آخر تاسې ولې دومره خپه او نيولي ياست؟ ولې ما په يوه موسکا، دوه کلمو خبرو نه خوشالوئ؟ د دنيا شتمني د لاس د ورغوي خيرى دى، دا خو وير نه غواړي. ما په يوه موسکا خوشاله کړئ. خپه مه اوسئ. تاسو زما په ځان اور بل کړ. زړه مو راته کباب کړ. زما خپل غم بس دى. نو تاسې ټول مه خپه کيږئ.

ياران دومره خپه شوي ول، چې ان دې خبرو يې زړونه هم نرم نکړل. کوراوغلو ته يې نه کتل. ځينو هم اعتراض پيل کړ: اوس چې زموږ خبره کوراوغلو ته يوه پيسه ارزښت نلري نور په چنلي بئل کې ولې تم شو. ښه ده هر څوک په خپل کار پسې لاړ شي.

دا خبره په کوراوغلو بده ولګېده. له يوې خوا يې قيرآت له لاسه ورکړى وو او له بلې خوا يو بوډا ګنجى غولولى وو، اوس هم دا ټول درد او کړاو بس نه وو، چې يارانو ملامتول او بد خويي پيل کړه. کوراوغلو نور ټينګ نشو او ناڅاپه يې په ځيره لهجه وويل: ما څوک په زوره ندي ايسار کړي. د هر چا زړه چې غواړي تلاى شي. آس زما خپل مال وو، اوس چې مې له لاسه ورکړ، ورمې کړ په چا پورې اړه نلري.

دې خبرې ياران وبوګنول. په چنلي بئل کې غوغا ګډه شوه. د غاړو څنډو نه يو دوه کسه پهلوانان تګ ته تيار شول. دلي حسن، تانري، تانيمار، ديل بيلمز، قورخو، قانماز چې د کوراوغلو له نامتو سرکردګانو (سرګروپانو) څخه ول او څو نورو سرګروپانو نګار بى بى ته وکتل. نګار بي بي د يارانو منځ کې زښت دروناوى درلود. هغه پر ښکلا او پهلوانى سربېره، سخته کار پوه او زيرکه وه. يارانو ټولو د دې خبره منله.

ketabton.com - The Digital Library

نګار بي بي کله چې ولیدو د پهلوانانو منځ کې اختلاف پرېوت او نژدی وه چې کار جدايي ته ورسيږي، ودرېده، هغه ټول چې تګ ته تيار ول، بېرته په خپل ځای کيناستل. دميرچي اوغلو، ايواز، ولی مهدی، چوپور، سفر او نور کيناستل. نګار ټولو ته مخ ورواړه او وی ويل: مګر هېر شوي مو دي چې د څه د پاره چنلي بئل ته راغلي يی؟ موږ دا پنډغالی په خپلو وينو جوړ کړی او تر څو پورې چې ان يو تن مظلوم په هېواد کې وجود ولري، له مبارزې به لاس وانخلو. تر څو پورې چې د چنلي بئل په شان د خورولي او وروروليِ ژوند ټول هېواد او ټولو خلکو لپاره ممکن نشي، موږ حق نلرو سره جلا شو. د کوراوغلو زړه که غواړي کولای شي يوازې لاړ شي. موږ به تر هغې پورې چې سا مو په تن کې وي توره پر ځمکه کينږدو، مګر هغه ورځ چې د خلکو ټول د ښمنان او ټول مفتخواره د پښو نه وغورځيږي...

نګار بي بي خپله وينا ختم کړه او راغله د ټولو سرګروپانو او پهلوانانو منځ کې کيناسته او د کوراوغلو نه يې مخ واړوه.

په يو داسې وخت کې د نګار قهر د کوراوغلو زړه له غصې ډک کړ. ساز يې راواخيست او په سينه پورې يې ټينګ کړ او د نګار نه په ګيلې کولو سره د ساز په غږولو او د سندرې په ويلو پيل وکړ، داسې چې:

ای نګارې، زما ښايستې، تا د چا نه زده کړل چې زما زړه مات کړی؟ آخر ولې د قهرجنې غرځنۍ په څېر راته ګوری؟ ته خو هېڅکله له قهر کولو سره بلده نه وی!

نګار څه ونه ويل. ان سر يې هم پورته نه کړ چې کوراوغلو ته وګوري. کوراوغلو ژړلو ته نږدې شوی وو. بيا يې ساز له سينې سره جوخت کړ او په ګيلې، زاري او هيلې يې شروع وکړه:

ketabton.com - The Digital Library

آخر ولې زما نه مخ اړوی، نګارې؟ دوه ټکي خو ووایه، چې پوه شم ګناه مې څه ده.

نګار غلې غلې وکاته او په زوره يې وويل: یعنې ستا کار اوس دې ځای ته رسېدلی چې وایې د هر چا زړه چې غواړي لاړ دې شي خپل کار پسې؟ د زړو قدر زرګر پېژني. تا چې له اوس نه په ځان ستاینه شروع کړی، نو څنګه غواړې له خلکو سره مرسته وکړی او هغوی پاڅون او مبارزې ته راوکاږې؟ البته د هر چا، چې ستا په شان کار غټ شي، هېڅکله د خلکو قدر او قیمت نه پېژني. موږ دلته نه یو راټول شوي، چې د هر چا زړه هر څه وغواړي ویې کړي. ستا په سترګو او ورځو باندې هم مین شوي نه یو، چې هر څه وایې ویی منو. موږ ستا د زړورتیا او آزاد فکرۍ په خاطر چنلی بئل ته راغلي یو او ستا مشري مو منلی ده. موږ ټول دلته کار کوو او جنګیږو او د خویندو او ورونو په شان ژوند کوو او ټول حق لرو خپله خبره وکړو او د نورو عیب او سهوه ووایو. که زموږ په منځ کې داسې څوک وي، چې نه غواړي خپل عیب او سهوه ومني البته باید مخ ورڅخه وګرځول شي، اوس که دا هر څوك وي، که دا زه، مېرمن محبوب، کوراوغلو، دمیرچي اوغلو، ګورچي ممد یا هغه څوک وي، چې نوی دلته راغلی وي او هېڅ ډول نوم او شهرت نلري.

وایي چې کوراوغلو نوره یوه خبره و نه کړه. د خپلې سهوې نه دومره وشرمېده، چې سر یې ټیټ واچاوه او لاړ په یوه څنډه کې د کبلو پر مخ پرېوت او درې شپې او ورځې ترې وړی بېحرکته بیده شو.

له بلې خوا یاران هم د خپلو کړو نه پیښمانه شول، سره کیناستل، سلا او مشوره یې وکړه او وی ویل چې: موږ هم بد وکړل، چې کوراوغلو ته د

ketabton.com - The Digital Library

ډاډګیرنې او خواخوږۍ پر ځای مو هغه ورټلو او لا مو خپه او زړه مو ورمات کړ.

هر څومره چې د کوراوغلو شاوخوا وګرځېدل، راوېښ نشو. په پای کې د نګار بي بي نه مرسته وغوښتله. دمیرچي اوغلو وویل: نګار، اوس ته باید لاس په کار شی، له تا پرته نور څوک نشي کولای د کوراوغلو زړه په لاس راوړي.

نګار وویل: وي دي، پرېږدی چې اوس بیده شي، کله چې غواړي راویښ به شي تاسې ټول خواره واره شی، بیا به ایواز هغه زما خواته راولي. زه پوهیږم چې څنګه کوراوغلو د لاسه کړم او ټول سره پخلا کړم.

یاران هر یو خپل خپل ځای ته لاړل.

اوس د کوراوغلو حال واوری.

په دریمه ورځ یې خوب ولید، چې په توقات کې پر قیرآت سپور او د حسن پاشا مخې ته ولاړ دی او چیغې وهي او د میدان سړی غواړي. ناڅاپه له خوبه راپاڅېده او ایواز یې ولید چې سر ته یې ناست دی، داسې چې ته به وایی د دنیا ټول غمونه یې په زړه کې راټول کړي او له دوو خبرو سره به د پسرلي د وریځ په شان په ژړا سر شي.

د کوراوغلو زړه د ایواز په لیدو سره لمبه شو. ساز یې سینې ته جوخت کړ او یوه غمژنه او له شوره ډکه سندره یې وویله:

ایواز، له څه وجې دومره خپه یې؟ سر مې غواړې؟ ځان مې غواړې؟ څه غواړې، وایه! دغسې خپه او غمژن مه اوسه تر څو کوراوغلو ژوندې وی بایده نه ده د غم دوړه پر چنلی بئل پرېوځي.

ایواز وویل: پاڅه، کوراوغلو پاڅه، څو ټول ستا په انتظار دي.

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو ساز پر ځمکه کېښود او وی ویل: ایواز، آیا ممکنه ده د چنلی بئل ښځې او سړي بیا هم ماته منتظر وي؟ ما هغوی دومره خپه کړیدي چې نور به زما مخ ته څوک و نه گوري.

ایواز وویل: کوراوغلو، دا څه خبره ده چې ته یې کوی؟ ته زموږ مشر یې.

کوراوغلو وویل: څو قیرآت راونه گرځوم، یارانو خوا ته نشم ورتلای.

ایواز وویل:په دې صورت کې نور څه ته معطل یې؟ پاڅه جامې واغونده، وسله واخله او ځه. کوراوغلو پاڅېد. یودوه قدمه نه و تللی، چې د ساز او سندرې غږ یې تر غوږ شو، دومره سوزناکه او دومره د افسوس نه ډکه وه چې په آسمان کې یې مرغان د الوتلو څخه منعې کول. کوراوغلو شاوخوا ته وکتل، ناڅاپه یې نگار ولیده، چې ساز یې پر سینه د یوې غونډۍ د پاسه د ونې لاندې ولاړه او ساز آواز یې پیل کړی او کوراوغلو رابلي.

د کوراوغلو نور طاقت ونشو او د نگار خوا ته ورغی. کله چې د غونډۍ سر ته ورسېد او په ورشو کې یې قدم کېښود، څه یې ولیدل؟ ویې لیدل چې د چنلي بئل د ښځو او نارینه وو یارانو په گډون یو دوستانه مجلس جوړ شوی، دسترخوانونه غوړېدلي دي، خواړه او شراب تیار دي، پهلوانان، ښځې او نارینه چارچاپېره ناست دي خو هېڅوک نه خبره کوي او نه ډوډۍ ته لاس وروړي ټول کوراوغلو ته منتظر ول.

کوراوغلو مجلس ته راغی، دغه وخت د ښکلولو او پخلا کېدلو بازار تود شو، پهلوانانو او کوراوغلو هر یو د دوستۍ او پخلاینې څرگندونه کوله. ایواز د مجلس منځ ته راغی او ساقیتوب یې وکړ. ټولو خوړل او څښل او خوند یې ترې واخیست او خپگان او گیلې هېرې شوې.

ketabton.com - The Digital Library

## له حسن پاشا او ګنجي حمزه څخه د کوراوغلو انتقام

کوراوغلو له ګنجي حمزه سره خپل سرګذشت هغوی ته واوره. پهلوانانو هر یو د هرې څنډې نه وویل: زه همدا اوس ځم قیرآت راولم او د حسن پاشا سر په نېزه کې راوړم.

کوراوغلو ټول غلي کړل او وی ویل: ښه ده چې زه په خپله آس پسې ولاړ شم. قیرآت ماته سترګې په لار دی. دغه وخت کوراوغلو راپورته شو او له سر نه یې تر پښو پورې یې جنګي جامې واغوستلې، تېره توره یې تر ملا کړه، سپر او ډال او نور جګړییز لوازم یې راوخیستل او پوستین یې واغوست او ساز یې پر ولي ځانله یې پیاده د توقات لار ونیوله. شپه او ورځ یې مزل کاوه، سر یې بالښت و نه لید او سترګو یې خوب؛ څو د توقات ښار ته ورسېد. تیاره خورېدله. کوراوغلو د یوې بوډۍ ښځې ور وټکاوه، بوډۍ ښځې ور بېرته کړ. کوراوغلو بوډۍ ته څو روپۍ ورکړی چې خواړه ورته تیار کړي او پربېږدي چې د دې په کور کې شپه تېره کړي.

د ماښام ډوډۍ یې چې وخوړه او دسترخوان یې ټول کړ، بوډۍ د کوراوغلو ساز ته پام شو او وی ویل:مینه! اوس ساز دې راواخله لږ څه ووایه چې یې واورو.

کوراوغلو وویل: نیاجانې، اوس د خوب وخت دی، سبا سهار به یې درته وغږوم.

بوډۍ وویل:سبا زه د حمزه بیګ واده ته ځم. که غواړی اوس یې وغږوه او که نه غواړی مه یې غږوه.

کوراوغلو وویل: حمزه بیګ څوک دی نیاجانې!

ketabton.com - The Digital Library

بوډۍ وویل: حمزه بیگ د حسن پاشا زوم دی... نه بېروندکی او زړه ور ځوان دی. وايي یو کوراوغلو... نه پوهېږم څه شی دی.... ته يې پېژنې؟

کوراوغلو وویل: ښه، نوم مې ورله اوریدلی دی؟

بوډۍ وویل: حمزه لاړ او د هغه آس يې نیولی راووست، حسن پاشا ده ته د «بیگي» لقب ورکړ او سربېره پر دې يې خپله لور «دونا بي بي» هم ورکړه. سبا يې واده دی. زه به هم د جونو او ناوی خدمت وکړم. باید سبا وختي پاڅېږم او لاړه شم.

کوراوغلو وویل: نیاجانې! ته پوهېږئ د کوراوغلو آس چېرته ساتي؟

بوډۍ وویل: د حسن پاشا په غوجله کې. خو وايي آس لېونی دی. هېڅوک خوا ته نه پرېږدي. د حسن پاشا ټول مهتران يې ټپیان کړيدي. اوس ورته وربشی او وابښه د غوجل د بلې له سوري نه غورځوي.

هغه څه چې د یادولو وړ ول کوراوغلو یاد کړل او اخر يې وویل: نیاجانې، ستړی یم ښه ده چې بیده شم.

بوډۍ وویل: واوره... وگوره څه وایم. ښه ده ته هم سبا واده ته راشی او ساز وغږوی او سندری ووایی، روپۍ به لاس ته راوړی. ټوکې ندي، د پاشا د لور واده دی.

لنډه دا چې بیده شول. سهار کوراوغلو پاڅېده او د تېرې ورځ په شان يې جامې واغوستلې او یو څه روپۍ يې بوډۍ ته ورکړی او وی ویل: که شپې ته راغلم په دغو روپو به راته خواړه تیار کړی او که رانغلم ستا شوی.

*　　　*　　　*

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو تلو تلو ځو د حسن پاشا ماڼۍ ته ورسېد، هلته يې څه وليدل؟ داسې يو جشن يې وليد، چې تر اوسه يې چا سارى نه و ليدلى، د مجلس خلکو چې واورېدل چې يو ناآشنا عاشق راغلى دى، خوشاله شول او کوراوغلو يې په راکښلو راکښلو د واده مجلس ته يووړ.

حسن پاشا د کوراوغلو ونى او تنې ته نظر واچاوه، داسې عاشق يې وليد چې لوړه ونه، سرور ولي او د غوايي په څېر څټ لري او بريتونه يې د غوړو تر نرمو اووښتي دي. لنډه دا چې هېڅ ورته والى له هغو عاشقانو سره نلري، چې ده ليدلي دي. پوښتنه يې وکړه:

ـ عاشقه د کوم ځاى يې؟

کوراوغلو وويل: د آن برقاف

پاشا وويل: کوراوغلو پېژنې؟

کوراوغلو وويل: ډېر ښه يې پېژنم. په داسې بلا يې اړولى يم چې څو دنيا ودانه وي، هېر به مې نشي.

حسن پاشا پوښتنه وکړه په څه بلا؟

کوراوغلو وويل: پاشا دې سلامت وي، کوراوغلو يو لعنتي لېونى آس لري قيرآت ورته وايي.

د پاشاگانو نه يو تن غوښتل څه ووايي، خو حسن پاشا يې مخه ونيوله او بيا يې کوراوغلو ته وويل:

ـ ښه، ويل دې.

ـ هو، قربان، ښه آس دى، افسوس چې لېونى دى. يوه ورځ د ورځو نه تللم، همدا ساز مى هم پر ولي پروت وو، سمدلاسه يوه ډله رانه تاو شوه او سترگې راته وترلې او له ځان سره يې بوتلم. چېرته لاړم او څنگه لاړم، نور

ketabton.com - The Digital Library

وربانديې نه پوهېږم. چې سترګې مې وغړولې د غره په سر کې وم او پلن ښتې ځوان مې مخې ته ولاړ وو. مه وايه چې دلته چنلي بئل دی او هغه پلن ښتې ځوان هم خپله کوراوغلو دی. ولې يې زه هلته وړی وم يو عجيبه او د اورېدو داستان لري. مه وايه چې بيا دغه آس لېونی شوی دی. هر څومره دوا درمل يې وکړل ګټه يې ونکړه. هېڅوک نه پرېږدي چې وربانديې سپور شي. هر څوک چې جرئت وکړي او ورنژدې شي په لغتو او غاښو يې ټوټې ټوټې کوي. کوراوغلو يو حکيم او کيميا ګر دوست درلود، ورپسې ورځي او پيدا کوي يې. مور مړی حکيم وايي آس پيرانی شوی دی، بايد څوک راشی کيني او درې شپې ورځې ورته ساز وغږوي او ورته لوبی ووايي څو پيريان يې پرېږدي او ترې لاړ شي. هغه وخت کوراوغلو په ساز غږولو او لوبو ويلو بلد نه وو، نو په عاشق پسې ګرځېدل چې زه بېچاره يې ګير کړم.

غرض دا چې سر مو نه خوږوم، زه يې ټيله کړم او د آس مخې ته يې وغورځولم. نو دغه درې شپې او ورځې راباندې څه تېر شول، خدای پوهېږي.

حسن پاشا په وارخطايي پوښتنه وکړه: آس څنګه؟ حال يې ځای ته راغی؟

کوراوغلو وويل: پوره ځای ته راغی. له هغه ورځې نه کوراوغلو د ساز او آواز يادول پيل کړ. وايي اوس هم په لس پنځلس ورځو کې يو وار بيا آس بی سوره کېږي، نو کوراوغلو ساز راخلي او سندرې وايي او د آس حال خپل ځای ته راځي.

ketabton.com - The Digital Library

بیا یو پاشا غوښتل چې خبرې وکړي، حسن پاشا ورباندې سترګې برندې کړې او غلی یې کړ. وی ویل: عاشقه، اوس لږ ساز وغږوه او سندره ووایه چې واورو یې.

کوراوغلو وویل: څه ووایم؟

حسن پاشا وویل: تا خو قیرآت لیدلی، ووایه ونه او تنه یې څنګه ده، نخښې یې څه دي.

کوراوغلو وویل: پاشا دې سلامت وي. لعنتي ښه آس دی افسوس چې لېونتوب یې راپارېږي.

وروسته یې ساز سینې ته جوخت کړ او وی ویل:

پاشا د قیرآت نخښې له ما نه غواړي، قیرآت داسې آس دی چې وزر یې د ریښمو دي. هسکه یې غاړه چې د جګړې په ډګر کې هېڅکله نه ټيټېږي. له بهانه یې ملا نرۍ ده او د وریو لېوه نه لا خوراکی دی، په توره شپه کې هم خپله لار مومي. د جګړې په ډګر کې هېڅکله خپله سپرلی نه پرېږدي. د کوراوغلو آس د ده په شان لېونی دی.

حسن پاشا وویل: قیرآت چې دې دومره وستایه اوس زما په غوجله کې دی. وایه، کوراوغلو نر دی که زه، چې آس مې ترې راوړی دی؟ کوراوغلو وویل: که رښتیا دې آس ورنه راوړی وي نو ته نر یې. خو نر نورې زیاتې نخښې هم لري. واوره دغه نخښې هم لري:

د زړه ور سړي نخښې واوره: نر په یکي سر د غلیم په لښکر وردانګي او کله چې چیغه کړي او میدان ته راشي دښمن له تېښتې پرته بله لار نلري. نر هغه څوك دی، چې د تسلیمي سر نه ټیټوي او د مرګ په وړاندې هم د

ketabton.com - The Digital Library

خپلو ملګرو نه مخ نه ګرځوي. دښمن د نارينتوب او زړه ورتيا لافې وهي، خو نر او زړور بايد د شرمښ نه ګډه خلاصه کړي.

حسن پاشا وويل: عاشقه، دا نخښې چې دې وويلې لرم يې. ته به يې په خپله هم وګورې. اوس راجګ شه، چې قيرآت ته ورشو وګورو علاج يې کولې شي که نه.

کوراوغلو د دې خبرې په اورېدو سره خوشاله شو، خو خپله خوشالي يې ښکاره نه کړه. وې ويل: ښه وربشو. خو زما شرط دا دی چې زه د غوجلې نه بهر کينم او ساز غږوم. ته هم د دروازې له سوري نه آس ته ګوره که دې وليد زما ساز آواز څه اغېزه وکړه، خبره نشته، دننه ورځم او بيا ساز غږوم که اغېزه يې ونکړه بيا که مې څټ هم ووهی حاضر نه يم غوجلې ته ورشم. آخر زه پوهېږم چې څومره رذيل حيوان دی.

پاشا ومنله، پاڅېدل او روان شول او د غوجلې مخې ته ورسېدل. کوراوغلو د ور له سوري نه وکتل ويې ليد چې په قيرآت يې بوی لګيدلی او سترګې يې ورته نيولي او غوږونه بوڅ کړي دي. ځان يې څنډې ته کړ او وې ويل: اوس تاسو آس ته ګورئ زه هم ساز غږوم.

پاشاګانو د مېړيانو او ملخانو په شان راټول شوي ول او د ور له سوري نه يې غوجلې ته سترګې نيولې وې. کوراوغلو ساز سينې ته جوخت کړ او وې ويل:

- زموږ د وطن جنګيالي په ډګر کې په مېړانه ودرېږي او د مرګ تر ګړۍ پورې له غليمه نه تېښتي. يوازې نامرده له پېغوره نه شرمېږي. هېڅکله ګيدړ د لېوه غوندې زړه ور ندی. ملګري مې ډله ډله، پر تېزو آسونو سپاره، مصري توري يې تر ملا هر يو کوراوغلو دی.

ketabton.com - The Digital Library

قیرآت د کوراوغلو د غږ په اورېدو سره دومره خوشاله شو، چې نڅا او ګډا یې پیل کړه، ته به وایې غوجله یې ونړوله. حسن پاشا له ډېرې خوښې نه پوهېده څه وکړي. د دوستانو څنګ ته به ورغی او ویل به یې: وګورئ! څنګه نڅا کوي.

کورواغلو چې لوبه بس کړه، حسن پاشا وویل: عاشقه، ته ژر دننه ورشه، که علاج دې ورله وکړ د دنیا په مال به دې موړ کړم. اوس کوراوغلو پوهېږي چې دنیا د چا په لاس کې ده. نور د مېړانې او ځوانمردۍ لافې نه وهي.

ور یې ببرته کړ او کوراوغلو یې ورننویست. کوراوغلو ساز سینې ته جوخت کړ او عاشقانه سندره یې وویله چې یوازې قیرآت یې غږ اورېده، وروسته یې د قیرآت د غاړې نه لاسونه تاو کړل او په سر او مخ یې ښکلولو. قیرآت هم ځان کوراوغلو پورې سولولو او داسې یې ښکلولو چې ته به وایې غوا خپل خوسې څټي.

کوراوغلو ناڅاپه ټوپ کړ او په هوش شو، ته به وایی له خوبه راویښ شو. له ځان سره یې وویل: ای نادان زړګیه، څه کوی؟ دښمن درنه چاپېر دی او چاپېر دی او ته ځان په ناخبرې کې اچوی؟

ژر یې ځان ګوښه کړ او وې ویل: پاشا، تاسې څنډې ته شئ. زه آس بهر ته راوباسم لږه هوا وخوري. بیا به یې ستاسو په لاس درکړم ورباندې سپور به شی. خو پاشا، باید انعام پوره راکړي. دا کار ډېر سرخوږی لري! حسن پاشا وویل: ډاډه اوسه، دومره طلا دې پر سر وشیندم چې ته ووایې بس دی. خو لږ صبر وکړه څو موږ لاړ شو. ډاریږو بیا څه کار راپېښ نشي.

ketabton.com - The Digital Library

پاشاګانو په منډو منډو ځانونه د کلا برج ته ورسول او هلته کښېناستل او سترګې يې غوجل ته نيولې وې. پاشاګان چې لاړل کوراوغلو د آس زين پيدا کړ او د قيرآت پر شا يې کېښود او په تړلو او سمولو يې شروع وکړه.

اوس د ګنجي حمزه بيګ، د حسن پاشا د زوم حال واورى.

ګنجې حمزه د دونا بي بي د ماڼۍ ښخ ته ولاړ وو او زاري يې کوله چې ور ورته پرانيزي او دې دننه ورشي. دونا بي بي درباندې ملنډې وهي او د پاسه يې پر سر او مخ اوبه شيندي. حمزه ناڅاپه وليدل خلك د کلا د برج په لور منډې وهي، پوښتنه يې وکړه: څه خبره ده؟

وې ويل: خبر نه يې؟ يو عاشق راغلى او د قيرآت درملنه يې وکړه او اوس غواړي قيرآت ميدان ته راولي.

د دې خبرې په اورېدو سره د ګنجي حمزه زړه ډوب پرېوت او ژبه يې په تالو پورې ونښته او پر هغو پسې يې په منډو او ژړا کولو شروع وکړه. کله چې برج ته ورسېدل، ګنجي حمزه ځان حسن پاشا ته ورساوه. او په وېره او رپېدو يې وويل: حسن پاشا، بيچاره شوى، عاشق څوك دى؟ دغه په خپله کوراوغلو دى!

حسن پاشا د مسخرې نه ډکه موسکا وکړه او وى ويل: حمزه پوهېږم چې درد دې څه شى دى، له اوسه دې دونا بي بي نه پرېږدي چې ورشى؟ کېداې شي ورو ورو په لاره او ارامه شي. غم مه کوه.

حمزه وويل:پاشا، مخکې له دې چې وخت تېر شي، فکر وکړه. کوراوغلو اوس راځي او کلا درباندې ورانوي.

حسن پاشا بيا وخندل او وې ويل: ښه، ځه چې دونا بي بي درته منتظر ده!

ketabton.com - The Digital Library

گنجي حمزه له برجه راکوز شو. بله لاره یې نه وه غوجلې ته راغی، ویې لید چې کوراوغلو پر قیرآت سپور شوی او میدان ته ځي، ورمنډه او په خندا کې وویل:اې کوراوغلو له قدمونو دې ځار شم څه پر وخت راورسېدلی پوهېدلم چې رابشی. ستا له بخته زه هم د روزي ښبنتن شوم او د بیګي لقب مې واخیست او ...

کوراوغلو د قهر نه په ډك نظر حمزه ته وکتل. حمزه پر ځای وچ کلك شو او رنګ یې د زعفرانو په شان ژېړ شو.

کوراوغلو وویل: حمزه تا له هغه چا سره خیانت وکړ، چې تا ته یې پناه درکړې ده. ستا موخه پیسې، مقام او شخصي ګټه ده. ته خلکو ته له خانانو او پاشاګانو لا هم خطرناك یې، ځکه اقلاً سړی پوهېږي چې دوې دښمنان دي، خو ته د دوست په جامه کې راغلی، او داسې کار دې وکړ چې زه له تا نه ملاتړ وکړم او یاران خپه کړم. په چنلي بئل کې دې بې اتفاقي واچوله او پاشاګان دې زړه ورکړل چې چنلې بئل ته لښکر راولیږي.

حمزه ځان د مړي په شان واچاوه او وې ویل: ستا له قدمونو ځار شم کوراوغلو، ما وبخښه. اوس پوه شوم چې څومره سهوه مې کړې ده، وروسته له دې قول درکوم.....

کوراوغلو پرېښود چې خبره تمامه کړي، توره یې راویسته او د ګنجي څټ یې ووهو چې لس متره آخوا ولوید. آس یې پونده کړ او قیرآت د شاهین په شان وزرې خورې کړې او والوت او کوراوغلو یې د میدان منځ ته ورساوه.

حسن پاشا پاسه د برج نه آواز وکړ: اې، عاشقه، لږ یې آخوا دېخوا په لاره بوځه چې وې وینو.

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو قیرآت ته اشاره وکړه او قیرآت په میدان کې دوړي او خاورې باد کړی چې حسن پاشا له خوشالۍ یا ښایي هم له ډاره د برج د پاسه په رپېدو شو او وې ویل: عاشقه، د آس سواري دې هم زده ده!

کوراوغلو خپل ساز راواخیست او وې ویل:

حسن پاشا نور د مېړانې لافې مه وهه، اوس دې لا څه لیدلي دي، توره وهل مې هم زده دي. مېړني یاران مې که له چنلي بئل نه راورسیږي، ښار او کلا به دې له سربازانو تشه شي، کوراوغلو یم له چنلي بئل نه راغلی یم، وینې چې د عاشق په جامه کې پر قیرآت سپور یم. دغسې په زرهاوو هنرونه مې زده دي او غښتلي یم.

د پاشاګانو یو تن وویل:حسن پاشا، زه چې ورته ګورم عاشق راته نه ښکاري، بلا دې لري وي، نه چې پخپله کوراوغلو وي!

حسن پاشا ګنې بیده وو او له خوبه راویښ شو او ولړزېده او وې ویل: نه زړګیه، کوراوغلو چېرته دی، یعنې موږ دومره احمقان یو چې کوراوغلو راشي او موږ ټولو نه خره جوړ کړي او قیرآت بوځي؟

کوراوغلو بیا وایي: موږ ته "مراد بګلی" وایي، په میدان کې په مېړانه ودرېږو او د لوړو غرونو په سرونو د خانانو او پاشاګانو د کاروانونو مخه نیسو. په غرونو او دښتو کې شورماشور جوړوو او که چیغه کړم سرتېري دې ښار او کلا پرېږدي او تښتي.

حسن پاشا ولید چې اوبه یې له سره تېرې او له ورخه اوښتې دي، دنیا یې په سترګو تورتم شوه او لړزه یې پر اندامونو پرېوته. امر یې وکړ سمدلاسه د کلا دروازې وتړي او کوراوغلو ونیسي.

ketabton.com - The Digital Library

کوراوغلو ولید د کلا یوه دروازه وتړل شوه، حسن پاشا یې منع کړ او وې ویل: له قاصده مې خبر واخیست وایي: کلا پنځه لارې لري که چیغه کړم ټولې لارې به خالي شي.

دا یې وویل او غوښتل یې له دویمې لارې لاړ شي لښکر یې مخه ونیوله، کوراوغلو تېره توره راوویستله او د لېوه په شان چې په رمه ورځي پر لښکر ورغی او سرونه د بادرنګو د غړانکو په څېر پر ځمکه غورځېدل خو لښکر دومره ډېر وو چې لار نه خلاصېده.

کوراوغلو راستون شو چې له دریمې دروازې لاړ شي. هلته هم دومره ډېرې او شګې اچول شوي وې، چې آس په سختۍ سره لاره موندلای شوه. کوراوغلو بیا پر لښکر ورننووت او مړي یې پر مړو ډېرۍ کړل. قیرآت هم په منګلو او غاښونو سره د کوراوغلو نه کم نه وو.

د توقات کلا دریو خواوته وچه او یوې خوا ته یې اوبه دي.د تونا سرکشه سیند(د انوب سیند) وو. حسن پاشا دغه لار خلاصه پرېښې وه چې کوراوغلو یا د سرتېرو په لاس ووژل شي او یا خپله په اوبو ورګډ شي او ډوب شي.

کوراوغلو ولید چې ټولې لارې تړلي دي، هر څومره هم توره وچلوي او سرتېري ووژني لارې به لا بندې شي. د تونا سیند پر لور یې نظر واچاوه ویې لید لاره خلاصه ده، قیرآت یې هغه خوا ته وزغلاوه او وې ویل:

آس به زغلووم څو د دښمن زړه وچوم. نن باید د اوو کالو باج او خراج له پاشا نه واخلم، ځکه قیرآت به لکه لامبوزن د تونا د سیند نه پورې وځي.

دا یې وویل! په اوبو ورګډ شو. اوبه د آس تر غوږونو راوختلې. کوراوغلو ولید چې اوبه ډېرې تېزې دي او آس په ناهیلي سره لاس او پښې وهي. لاسونه یې د قیرآت تر غاړې تاو کړل او چیغه یې کړه:

ketabton.com - The Digital Library

اي زما هوسۍ مزله آسه، ای زما شاهين وزره آسه، تېز شه، تېز شه، هر سهار او ماښام به دې پالنه کوم. د طلا به درته نعل جوړ کړم، هر ځرنګه چې کيېدای شي ما له دې ځایه وباسه او چنلي بئل ته مې ورسوه.

قيرآت د کوراوغلو د آواز په اورېدو سره ګنې والوت او په لامبو وهلو سره يې ځان د سيند بلې غاړې ته ورساوه. کوراوغلو راستون شو او وې کتل حسن پاشا لا اوس هم د برج نه راکوز شوی نه دی، چيغه يې کړه:

ای هی پاشا، دا ځل په برج کې پټ شوی، د لاسه مې ووتلی، بل ځل به ګورو چېرته به تېښتی. بيا له يو بل سره ګورو!....

دا يې وويل او روان شو، تلو تلو څو چنلي بئل ته ورسېد. قيرآت همدا چې د چنلي بئل هوا بوي کړه داسې وشنېد چې آواز يې په غر او کمر کې انګازې وکړې. ياران ټول د کوراوغلو نه چاپېر شول او پوښتنه يې وکړه:

کوراوغلو، ستړی مه شی! وايه څه دې وليدل؟ څنګه دې آس پيدا کړ او را دې ووست؟

کوراوغلو ورته خپل سرګذشت، له ژرندې نيولې تر تونا سيند پورې بيان کړ. يارانو له دې کبله چې دې يې خپه کړی وو، پيښمانه شول او سرونه يې ځوړند ونيول.

کوراوغلو وويل: ناراحته کيږی مه، تاسې په حق وی. ما بايد په هر کس او ناکس باور نه وای کړی او د آس کلي مې ګنجي ته نه وای ورکړی. اوس کار شوی دی، خو پوه شی چې ماته کوراوغلو وايي!

نګار بي بي وليد چې کوراوغلو بيا له چتې وځي يارانو ته يې سترګك وواهه او وې ويل: کوراوغلو، موږ پوهيږو چې ته ربښتيا کوراوغلو يې، که نه نو موږ دې پر شاوخوا نه راټولېدو! ربښتيا چې مېړنې يې، زړه ور يې، د کار په

ketabton.com - The Digital Library

چل پوهیږی خو زموږ په منځ کې دې پاتې وي، تك تور يې او سر او بر دې زيات تعريف نلري!

يارانو ټولو وخندل. کوراوغلو په خپله هم وخندل. بيا يې ساز سينې ته جوخت کړ او وې ويل:

اې ښايستې چې تور مې بولی، مگر ستا وريځې تورې نه دي؟

څنې دې چې په غاړه پرتې دي، مگر تورې نه دي! ای د چنلي بڼل ښکلې، د لمر او سپوږمۍ په شان پر سپين مخ دې خال مگر تور نه دی؟ کوراوغلو ته د ځان نه گرانه يې . ساز آواز ته مې غوږ ونيسه، هغه رانجه چې دې پر سترگو راکښلي مگر تور نه دي؟

دبی - ۱۳۴۷

ketabton.com - The Digital Library



اې کینې، ته هم د مینې په شان سپېڅلې یې ! موږ نشو
کولای خلکو ته خپله مینه ثابته کړو، مګر دا چې د
خلکو له دښمنانو سره کینه وکړو.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*